په افغانستان کې بنځې، سوله او امنیت

د مختک لپاره تیر ته کتنه

د افغان میرمنو لیدلوری مجموعه

EPD | EQUALITY for Peace and Democracy

مننه

د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسه غواړي لومړی له افغان میرمنو څخه چې په دې سلا مشورو کې شاملې وې ، مننه وکړي ، د چا له مرستو پرته چې د څېړنې دغه سند به ممکنه شوې نه وای. دغه راز نوموړې موسسه له دغې څېړنې سره د هالنډ سفارت د مالي مرستې قدرداني کوي. له بهرنیو کتونکو څخه آغلې کیرستن تومایک او Y څخه مننه کوي چې له دې څېړنې سره یې خپلې ارزښتناکې مرستې کړې دي. دغه راز موږ د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسه د ښځو د ولایتي شبکو د مشاورینو د کمیټې له غړو څخه د دوي د تبصرو او مرستو له امله مننه وی یو چې د بیا کتنې په پروسه کې یې له موږ سره شریکې کړي او له موریت ایډ څخه د وروستي متن د تصحیح کولو له امله مننه کوو. موږ غواړو چې د نړیوالې مدني ټولنې د شبکې څخه د څېړنې لپاره د وسایلو د برابرولو او د دې څېړنې لپاره د معلوماتو او ارقامو د تنظیم له امله مننه وکړو.

میتودولوژي

په دغې څېړنې کې چې له ۹ سلا مشور څخه جوړه شوې ده ۷۴ ښځو د ۲۰۱۳ کال په پای کې له دغو ۲۰ ولایتونو څخه برخه اخیسته وه: ننګرهار ، لوګر ، بامیان ، هرات ، کندهار ، هلمند ، اروزګان ، خوست ، پکتیا ، فاریاب ، بدخشان ، کندز ، تخار ، بغلان ، جوزجان ، سرپل ، سمنګان ، بلخ ، پروان او کاپیسا. څېړنه د دوو لیکوالو له خوا په دوه ځله چې د موضوع له پلوه تعینه او د کیفیت له مخې ترتیب شوې وه ترسره شوې ، څو تکراري نظریات ، سببي اړیکې او احساسات توضیح کړي. ارقام او معلومات د موضوع په اساس ترتیب شوي ، څو هغه مهم تمایلات چې د ګډونوالو لپاره مهم وو د هغو کسانو په صف کې راځرګند شي چې مرکې ورسره شوې دي. باید په یاد ولرو ، چیرې چې د څېړنې ارقام یاد شوي ، د انګلیسي ژبې ژباړې ، په ځینو ځایونو کې د ګرامري قواعدو له مخې بدل شوي ، خو دې ته پام شوی ، چې د خبرو مفهوم لکه څنګه چې ویل شوی وساتل شي.

د لیکوالانو په اړه

هنا پارتیس جیننګز د ستیټ اندریوز په پوهنتون کې ، په سکاټلینډ کې په نړیوالو اړیکو کې د دوکتورا د علمي درجې د اخیستلو نوماند ده. آغلې پارتیس جیننګز د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی له موسسې سره د میلمه څېړونکی په څېر په هغه وخت کې کار کاوه چې په افغانستان کې یې د دوکتورا لپاره د څېړنې په برخه کې بوخته وه. د دې د څېړنې په ساحه کې د جنډر ، د نظامیانو له خوا سوله ییز عملیات ، او قانوني پرینسیپونه شامل وو لکه د ساتنې او حفاظت مسوولیت.

ماري ایس هوبر د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی له موسسې سره د تخنیکي مشاور په حیث کار کوي. آغلې هوبر له دوو کلونو راهیسې په افغانستان کې ژوند کوي او د ملي او نړیوالو سازمانونو لپاره د څېړنې کارونه ترسره کوي. د دې د څېړنې په ساحه کې جنډر ، د ښځو مسلې ، د نظامي سیاست په لوري پرمختګ ، د ټولنې نوښتونه ، بې ځایه کیدنه او کډوالی شامل دي.

ځرنګه چې افغانستان د لېږد لسیزې ته د ننوتو په حال کې دی ، د سولې ، پخلاینې او امنیت په برخه کې پرمختګ نازک او ټکنی دی. په داسې حال کې چې افغانستان د دوو مهمو سیاسي او امنیتي لېږدونو مسولیت اخلي ، ددغه سند لپاره د سولې د عالي شورا د ۲۰۱۵ کال د سولې طرحه د یوه معیار په توګه څېړل شوې ترڅو د دې د بیاکتنې په بهیر کې د مختګ لار په ډاګه کړي. د سولې او دیموکراسي د یو شانوالي موسسې څېړنو موندلې چې د ۲۰۱۵ د سولې په طرحه کې پر ننګونکو سربیره د خلکو ګډون ډیر مثبت و ، خو له بلې خوا یې دا هم په ډاګه کړې ، چې د سولې د پخلاینې د سیاسي اړخ او د ټولنو د اړتیاوو او وړتیاوو ترمنځ لا هم ډیر توپیر موجود و. په ځانګړي ډول د ۲۰۱۵ د سولې په طرحه کې د ښځو اندېښنې او لیدلوري په پام کې نه دي نیول شوي ، نو له همدې کبله دغه د ښځو غږ او اندېښنو ته د حل لارې چارې طرحه کړې دي. دغه مباحثې د سولې د بهیر په اړه د ښځو لید لوري او دغه راز هغه کلتوري او په شرایطو پورې اړوند امنیتي خنډونه په ډاګه کوي ، له کومو سره چې افغان میرمنې لاس او ګریوان دي. دغه څېړنه هغه سترې ننګونې په ډاګه کوي ، چې ښځې د سولې په پروسه او د سولې او امنیت د لاس ته راوړلو په لار کې ورسره مخامخ کېږي ، دا هغه ساحې دي چېرې چې د ظرفیت لوړولو لپاره اړتیا شته او د کلیدي شریکبانو لپاره عملي سپارښتنې برابروي. په اساسي ډول د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسه د دې سپارښتنه کوي ، چې سیاسي ، نړیوال او د مدني ټولنې فعالین باید پر هغو میکانیزمونو تمرکز وکړي ، کوم چې د سولې په پروسه کې د عامو وګړو د ښکیلتیا لپاره فرصت برابروي. د څېړنې عمومي تمایل د دې ښکارندوی دی ، چې په دغه بهیر کې د ښځو او د هغوي د ټولنو د شاملونې د پیاوړي کولو او اصلاح یوه بیړنۍ اړتیا ده ، څو په افغانستان کې پایېدونکې سوله تر لاسه شي.

اجرایي لنډیز

پېژندنه

د سولې عالي شورا په ۲۰۱۰ کې له طالبانو سره د خبرو اترو لپاره د کاري چوکاټ جوړولو له صلاحیت سره تاسیس شوه. په ورته وخت کې افغان حکومت د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام هم پیل کړ ، څو د ټیټې کچې جنګیالي له خپلو ټولنو سره بیا یوځای شي او هغوي دې ته وهڅوي چې د طالبانو لیکې پریږدي ، په ښکاره ډول یو داسې پروګرام چې موخه د سیاسي لارو چارو له لارې د سولې بسیج کول و. په ۲۰۱۲ کې ، د سولې عالي شورا د ۲۰۱۵ کال د سولې د بهیر طرحه خپره کړه ، یو ننګونکی سند چې په افغانستان کې د طالبانو ، حزب اسلامي او نورو وسله والو یاغي ډلو لپاره یو پلان طرح کوي ، څو له وسله وال مخالفت نه لاس واخلي او د افغانستان په سیاسي او د اساسي قانون پر بنسټ پروسو کې رغنده برخه واخلي ، او د ۲۰۱۵ کال تر مخه ټول بهرني ځواکونه له هیواد څخه ووځي. د ۲۰۱۵ کال د سولې طرحه د سولې په خبرو اترو کې د طالبانو او نورو وسله والو ډلو د شاملولو لپاره شرایط ، د سیمه ییزو اړیکو د توازن لپاره تدابیر ، په ځانګړي ډول له پاکستان سره د امنیتي اړیکو ټینګول او د سولې د بهیر لپاره د مهالویش رانغاړي.[1] پر دغې طرحې له دې امله چې پر طالبانو ډیر تمرکز کوي نیوکې کیږي او غیر واقعي ګڼل کیږي. له دې سره سره چې افغانستان د سیاسي او امنیتي لیږد یوه خورا مهم پړاو ته ننوځي ، زیات شمیر شرایط په ځانګړي ډول هغه یې چې پر بې وسله کولو او بیا یو ځای کیدنې تمرکز کوي ، لا هم واضح ندی. د ۲۰۱۵ کال طرحې دغه راز د سولې په بهیر کې د ښځو اندېښنې په بشپړ ډول له پامه غورځولي. په سند کې یوازې یو ځل د ښځو یادونه شوې ، او په هیڅ ځای کې دې اړتیا ته اشاره نه ده شوې ، چې د سولې او پخلاینې په پروسو کې د جنډر اندېښنې یا د ښځو لیدلوري ځای کړای شي.

د پخلاینې د پروسې په اړه د سولې د عالي شورا او د افغان حکومت پراخه تګلار د دې له امله تر زیاتو نیوکو لاندې راغلې ، چې په دې اړه د عامه پوهاوي/رسیدنې او مدني ټولنې د رابښکیلولو په ډګرونو کې پاتې راغلي او دغه راز نوموړې پروسه د شفافیت د نشتون له امله هم زیانمنه شوې ده. دغه چارې د حکومت د سولې د هڅې او د افغان مدني ټولنې د آندونو ترمنځ د پام وړ بیلوالی لامل شوی ، کوم چې په ځانګړي ډول د ښځو د تیرې لسیزې لاسته راوړنې له ننګونو او ګواښونو سره مخ کوي. د یادونې وړ ده ، چې د ۲۰۱۵ کال د سولې د طرحې په جوړولو کې له افغان مدني ټولنې او عامو افغان وګړو سره سلا مشورې نه وې ترسره شوې.

د ښځو ، سولې او امنیت ترمنځ اړیکه د تل پاتې سولې[2] د رامنځ ته کولو لپاره خورا مهمه ده او په افغانستان کې د پایښدونکې سولې په تر لاسه کولو کې ښځې کلیدي رول لري. د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسې له ۲۰ ولایتونو څخه له ۷۴ ښځینه مشرانو ، فعالینو او ټولنې له غړو سره متمرکزې ګروپي مباحثې ترسره کړې ، چې د سولې د عالي شورا د ۲۰۱۵ کال د سولې د پروسې د طرحې او د افغانستان د سولې او لیږد د پروسو په اړه د ښځو د اړتیاوو او لید لورو په اړه په کې خبرې اترې ترسره شوې.

د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسې له خوا په ترسره شویو متمرکزو ګروپي مباحثو کې ښځو د ۲۰۱۵ کال د سولې د طرحې او د افغانستان د سولې او پخلاینې د پروسو په ستونزمنو مسلو کې برخه واخیسته. له خبرو اترو/ډیالوګ څخه راغوند شوي معلومات د موضوعي نمونو لپاره کوډ یا اقتباس شوي او د دوو څیړونکو له خوا تحلیل شوي. کوم څه چې را برسیره کیږي ، د هغو لارو چارو په اړه پیاوړې هر اړخیزه موضوعکاني دي په کومو کې چې په افغانستان کې ټولنې کولای شي د مقاومت ظرفیت ته وده ورکړي او د ښځو لپاره د دې فرصتونه برابر شي ، چې د سولې او پخلاینې په پروسو کې رغنده رول ولوبوي. ګډونوالو د دې شدیده اړتیا څرګنده کړه ، څو ډاډ تر لاسه شي چې د سولې پروسې مازې سیاسي نه ، بلکې د ټولنې لپاره او د ټولنې له لورې یې مشري کیږي ، او د مدني ټولنې

[1] د ۲۰۱۵ کال د سولې طرحه
http://www.foreignpolicy.com/files/121213_Peace_Process_Roadmap_to_2015.pdf

[2] د مثال په ډول د ملګرو ملتونو ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک وګورئ

او عامو وګړو د سلا مشورو او څارنې لپاره بسیا میکانیزمونه په واک کې لري. د راتلونکو سیاسي او امنیتي لیږدونو په پام کې نیولو سره ، افغانستان له یوه بې ساري فرصت سره مخ کیدونکی دی ، چې د سولې او پخلاینې د پروسو په اړه خپلې کړنلارې بیا و ارزوي او د بدلون لسیزې ته د ننوتو لپاره لا زیاتې اغیزناکې او هر اړخیزه پالیسي ګانې وضع کړي. د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسې متمرکز ګروپي ارقام/معلومات راغوند کړي ، چې د دریو عمده همکارو/شریکباڼو ډلو: مدني ټولنې ، نړیوالې ټولنې او ډونرانو او افغان حکومت او د سولې عالي شورا لپاره کلیدي عملي سپارښتنې تجویز کړي.

د سولې، پخلاینې، امنیت او بیا یو ځای کیدنې ننګونې

۱. امنیت

فیزیکي ناامني د ښځو په ورځني ژوند او دیموکراتیکې او سولې په پروسو کې د ګډون په وړاندې لا اوس هم مرکزي خنډ ګڼل کیږي. "امنیت" د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسې په څیړنې کې یوازینۍ ستره موضوع وه چې بیا بیا تر سترګو شوې. دا په هیواد کې یو پراخ تمایل منعکس کوي ، چېرې چې زیاتره نا امني د افغانستان تر ټولو ستره ستونزه ګڼل کیږي.[3] ټولو ګډونوالو طالبان د خپل ځان لپاره په مکرر ډول د نا امني د سرچینې په څیر یادول او هغه یې پر سولې په بالقوه ډول د منفي اغیزې لامل ګڼلی. ځانمرګي بریدونه د وګړو ترمنځ د ویرې لامل او د امنیت کلیدي اندېښنه ګڼل کیده ، په ځانګړې ډول په جنوبي سیمو کې. ښوونځي ته پر تلونکو نجونو بریدونه په ځانګړې ډول په کلیوالي سیمو کې په لوړه کچه لیدل شوې نا امني هم د اندېښنې وړ سرچینې ګڼل کېدې ، په تیره بیا په جنوبي سیمو کې د سلا مشورو پر مهال. د قبیلوي شخړو ، کورنۍ تربګنیو ، جنګ سالارانو او نورو ګواښوونکو ډلو یادونه هم وشوه ، او په یوه هر اړخیز امنیتي تحلیل کې د دغو ټولو عناصرو شاملولو ته د پاملرنې اړتیا د یوې لومړنۍ او اساسي موضوع په څیر د خبرو اترو/ډیالوګ پرمهال په ډاګه شوه. د پولیسو یا چارواکو له خوا د ځواک ناوړه کارونه او د ځوانانو له خوا په ناسم ډول رهبري شوي فعالیتونه هم په جنوبي سیمو کې د سلا مشورو پر مهال ستونزه زیږونکي و بلل شول.[4] سربیره پر دې ، یوه بله مرکزي موضوع چې د ځواب ویونکو له خوا د سولې د تر لاسه کولو لپاره په ګوته شوه ، د ګاونډیو هیوادونو د "لاس وهنې" د مخنیوي اړتیا وه ، د کومې یادونه چې پرته له یوې په نورو ټولو سلا مشورو کې یاده شوه. دا د سولې د طرحې اندېښنې منعکسوي ، کوم چې د سیمه ییزو امنیتي اړیکو د ټیکاو اړتیا په تیره بیا له پاکستان سره په ګوته کوي.

ګډونوالو دغه راز د ملي پولیسي ځواک روزنې او ودې اړتیا ته اشاره وکړه ، په تیره بیا د ښځینه پولیسو کارمندانو ګمارنې ته.[5] ځینو ښځو پر پولیسو خپله بې اتباري ښکاره کړه او دوي احساس کاوه چې هغوي زیاتره غیر صادق یا فاسد دي.[6] سربیره پر دې ، دوي د دې یادونه وکړه ، چې د پولیسو د غوره کولو پروسه سمون ته اړتیا لري ، څو ډاډ تر لاسه شي هغه کسان چې د پولیسي ځواک یوه برخه ده په تیرو وختونو کې په جنایتونو کې شامل نه وو او په تندو او سرغړونکو شخړو کې یې لاس نه درلود.[7] په لیرو پرتو سیمو کې هم د پولیسو د شتون او ځای پر ځای کولو اړتیا یادونه وشوه ، په ځانګړې ډول د جنوبي سیمو د ګډونوالو له خوا.[8] په شمالي سیمو کې د سلا مشورو پر مهال ، زیاترو ګډونوالو احساس کاوه ، چې له کمزورې ظرفیت سره سره افغان ملي امنیتي ځواکونه په عام ډول د ساتنې د برابرولو لپاره لازمه فداکاري او انګیزه لري. زیاترو یې دا انګیرله چې د پولیسو لپاره د لا زیاتې روزنې او ښوونې اړتیا ده ، او نړیوال ځواکونه باید د پولیسو لپاره د روزنې برابرولو ته ادامه ورکړي.[9]

د متمرکزو ګروپي مباحثو پر بنسټ دا څرګنده شوه ، چې نا امني د ښځو لپاره مرکزي اندېښنه ګڼل کیږي ، په ځانګړې ډول کله چې دوي د سولې او په دې اړه فکر

[3] کیټ شاوی (۲۰۱۳) د آسیا بنیاد. "افغانستان په ۲۰۱۳ کال کې: د افغان وګړو سروې" http://asiafoundation.org/resources/pdfs/2013AfghanSurvey.pdf ۶ مخ

[4] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۱

[5] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲ ، ۱

[6] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۳ ، ۱

[7] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۱

[8] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۳ ، ۴

[9] په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۱ ، ۲ ، ۳ ، ۴

کوي ، چې د سولې پروسې باید کوم ډول پر مخ لاړې شي. ځینې یادې شوې مسلې ، لکه ځانمرګي بریدونه او طالبان د ملي امنیت ډیرې دودیزې ملي اندېښنې دي. خو د نا امنۍ ځینې نورې سرچینې لکه د ښځو په وړاندې تاوتریخوالی ، اجباري ودونه ، پر ښځینه زده کوونکو بریدونه ، په بدو کې د نجونو ورکړه او کورنۍ دښمنۍ ډیرې دودیزې امنیتي اندېښنې نه ګڼل کیدې. دغه ستونزې په ښکاره د جنډر بعدونه لري او باید د کلیدي شریکبانې یې په وړاندې مسوول وګڼل شي.

۲. د حکومت د سولې د پروسې ستونزې

په داسې حال کې چې د ۲۰۱۵ کال د سولې طرحه له پاکستان سره پر اړیکو او طالبانو سره د مذاکرې پر اقداماتو بې حده تاکید کوي ، ښځو د دغو تګلارو سره خپل مخالفت څرګند کړ. سره له دې چې ځینو ښځو د

مورِ د اوبو او اکسیجن په څیر سولې ته اړتیا لرو. حکومت باید د امنیتي ځواکونو ظرفیت او تجهیزات بهتر او اصلاح کړي. څوک چې وضعیت کډوډوي، دوي ټول افغانان دي، زما مقصد هغوي د دې هیواد اتباع دي او دوي لا اوس هم په هیواد کې اوسي.[1]

پخلاینې په پروسه[10] کې د طالبانو د شاملولو اهمیت احساس وو ، زیات شمیر نورو ګډونوالو د ښځو پر حقونو د محدودیتونو د ویرې او پروسې ته د هغوي د ژمنتوب د نشتون له امله طالبانو سره د پخلاینې نظریه په کلکه رد کړه.[11] یو شمیر ښځو د طالبانو د واکمنې پر مهال د خپلو تجربو یادونه وکړه او د هغوي تیرې سرغړونې یې د سولې د هرې پروسې لپاره د خنډ په څیر په ګوته کړې.
ګډونوالو د اوسنۍ پروسې او د پروسې د مشرتابه کسانو په اړه شک څرګند کړ ، په ټیره بیا د سولې د عالي شورا او د ۲۰۱۵ د سولې د طرحې په اړه. ځینو یې داسې انګیرله چې د سولې د عالي شورا ځینې غړي د پوښتنې وړ پس منظرونه لري او د مناسبو ظرفیتونو له نشتون او د وګړو له بې باورۍسره مخ دي.[12] ځینو نورو یې بیا داسې احساس کاوه ، چې ګواکې هغوي فاسد یا د شخصي ګټو پالونکي دي.[13] ځینو ګډونوالو داسې احساسوله چې د ۲۰۱۵ طرحه د خلکو په ګټه نه ده جوړه شوې او هغه یې له بشري او د ښځو له حقونو سره په ټکر کې ګڼله.[14] د نظر یو عام توافق چې په ټولو بحثونو کې موجود و ، دا چې و چې د سولې اوسني بهیر په مناسب ډول د افغان وګړو اندېښنې په پام کې نه نیسي او په ځانګړې ډول د ښځو او د هغوي د اړتیاوو او حقونو استازیتوب په کې له پامه غورځول شوی.

د ۲۰۱۵ کال د سولې په طرحه کې د پاکستان ، سعودي عربستان او د امریکا متحده ایالاتو لپاره د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ د مذاکرو لپاره پراخ نقشونه په پام کې نیول شوي ، چې په ۲۰۱۳ کال کې د سولې خبرو اترو هم ورته تګلار تعقیبوله ، چې قطر د طالبانو د سیاسي دفتر کوربه هیواد و او د امریکا متحده ایالات د خبرو اترو په نړۍ منځګړیتوب کې ښکېل وو. سره له دې چې خبرې ژر ودریدلې او طالبانو یې پرې پر امریکا او افغان حکومت واچوله. د سولې او پخلاینې د پروسو ملي مالکیت د مباحثو پیاوړې موضوع وه ، چې نړۍ په هره متمرکزه ګروپي مباحثه کې یې یادونه وشوه. هغو ښځو چې مشورې ورسره شوې په کلکه داسې انګیرله چې دغه پروسه باید افغاني وي ، ځینو نورو یې بیا احساس کاوه ، چې د سولې

[10] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۱ ، ۳ په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۳

[11] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۴ ، ۵ ، په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۴ ، ۳ ، ۲ ، ۱

[12] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۵ ، ۱ ، ۴ ، په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۴

[13] په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۴

[14] په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۵

خبرې اترې بايد په افغانستان کې پرته له دې چې کوم باندني لوری په کې دخيل شي او يوازې هغه مهال چې د بهرنيو ځواکونو په شمير کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شي ، ترسره شي.[15] يو شمير کډونوالو دغه راز د امنيتي مسلو او د ګاونډيو هيوادونو د لاس وهنې په اړه مباحثې ترسره او دغې مسلې ته يې رسيدګي په افغانستان کې د سولې او امنيت په ګټه ګڼله.[16] خو بيا هم ، عام تمايل پر دې و ، چې دغه ډلې نه بايد له طالبانو سره د افغان خبرو اترو مستقيمې خواوې وي ، بلکې دغو مسلو ته بايد په جلا ډول رسيدګي وشي.

۳. له بيا يو ځای کيدنې سره مخالفت

په افغانستان کې د بې وسلې کولو ، ملکي کولو او بيا يو ځای کولو (ډي ډي آر) پروسه له دې امله بې ساري وه ، چې دا د سولې د کوم تړون په پايله کې نه وه رامنځ ته شوې ، بلکې يوه داسې داخلي پروسه وه ، چې د نوي ملي حکومت او امنيتي تشکيل سره يو ځای پيل شوې وه.[17] د ډي ډي آر مختلف نوښتونه لکه له ۲۰۰۳ تر ۲۰۰۵ پورې د افغانستان د نوي پيل پروګرام او له ۲۰۰۵ تر ۲۰۱۱ پورې د ناقانونه وسله والو ډلو منحل کول (ډاياګ) له ۲۰۱۰ تر ۲۰۱۵ پورې د افغانستان د سولې او پخلاينې پروګرام ، د افغانستان د بيا يو ځای کيدنې پروګرام او د دې په شان نور پروګرامونه چې په سياسي او محلي ځواک د ايتلافونو او د پلويانو د اتحاديو پربنسټ جوړ شوي وه ، تر يوې اندازې د برياوو د نوښتونو په خير پيژندل کيږي.[18] په ځانګړې ډول په دغو پروګرامونو کې ډير ټينګار پر بې وسله کولو او ملکي کولو باندې و په داسې حال کې چې بيا يو ځای کيدنې او پخلاينې ته ډيره پاملرنه وه شوې. د پخلاينې د هڅو له تحليل چې د ډي ډي آر پروسې په تړاو ترسره شوې څرګندېږي چې دغه هڅې "غير منظمې ، عمودي مديريت ، او د طالب پخوانيو قوماندانو په خوښې پورې تړلې څو هغوي په يوه داسې نوي حکومتي سيستم کې کار وکړي ، چې هغوي يې په جوړولو کې هيڅ لاس نه درلود."[19] د سولې او ديموکراسي د يوشانوالی د موسسې له خوا ترسره شوې سلا مشورې په افغانستان کې د ډي ډي آر د پروسې پراخې څېړنې ، چې ګواکې "بيا يو ځای کيدنې ته د رسيدګي لپاره لا اوس هم په مخ کې اوږده لار موجود ده" منعکسوي.

د بيا يو ځای کيدنې په اړه د بنځو نظريې هغه څه منعکسوي چې د سولې د خبرو او پخلاينې په برخه کې ترسره شوي ، په داسې حال کې چې بيا يو ځای کيدنه د بنځو او افغانانو لپاره د امنيت د يوې بلې اندېښنې په خير په ګوته شوه. د زيات شمير کډونوالو لپاره د هغوي په ټولنو کې د طالبانو د بيا يو ځای کيدنې په اړه مباحثې له ويرې ، ګواښونو ، ناامنيو او تاوتريخوالي سره ملې وې او يو زيات شمير د طالبانو شاملول په کلکه رد کړل. ځينو کډونوالو د تيرو تجربو پر بنسټ پر طالبانو خپله بې باوري په ډاګه کړه او هغوي يې د بنځو لپاره په ځانګړې ډول تر ټولو ستر ګواښ ګاڼه.[20] کډونوالو دا ويره څرګنده کړه ، که چيرې طالبانو ته د دې اجازه ورکړل شي چې هغوي بيرته خپلو ټولنو ته راستانه شي ، دا به يو منفي اغيز ولري او بيرته يو ځای شوي جنګيالي به يو ځل بيا په خپلو ټولنو کې تاوتريخوالی او د حکومت ضد فعاليتونه تازه او ترسره کړي.[21] زياتو يې د بيا يو ځای کيدنې د پروسې له نظريې سره مخالفت کاوه[22] او د بيا يو ځای کيدنې د پروسې د ناکاميدو يادونه يې کوله. د بيا يو ځای کيدنې موضوع روغه جوړه ، صداقت ، عدالت او جبران رانغاړي ، کومې چې بايد په سياسي ، ملي او محلي کچو رسيدنه وشي. د کډونوالو له خوا د بيا يو ځای کيدنې په وړاندې پرلپسې مخالفت د دې بنکارندوی دی ، چې په افغانستان کې د پخلاينې پروسه پخوانيو ناخوالو ته د رسيدګي لپاره د يوه مناسب فرصت په برابرولو او بنځو ته د دې ورتيا ورکولو کې پاتې راغلې ، څو وکولای شي له لېرد وروسته د يوه متحد افغانستان د راتلونکي په اړه خپل نظر وړاندې کړي ، په هغه ډول چې د ۲۰۱۵ په طرحه کې په ډاګه شوی.

15 په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۳

16 په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۳ ، ۲ ، ۱ ، ۴ ، په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۱ ، ۳ ، ۴

17 په افغانستان کې ډي ډي آر: کله چې دولت جوړونه او امنيت سره په تکر کې وي

18 همدا ماخذ

19 همدا ماخذ

20 په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۱

21 په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۵ ، ۳ ، په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۳ ، ۲

22 په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۵ ، ۴

مورِ له طالبانو کومه ښه خاطره نه لرو، او مورِ يې خپلو ټولنو ته د راتلو هرکلی نه کوو. کله به چې مورِ ښار ته د پيرودنې لپاره تلو طالبانو به مورِ په لښتو او کوتکونو وهلو او دا زمورِ په خاطرو کې پاتې شوي. مورِ د هغوي له خوا ترسره شوي جرمونو هيڅکله له يادە نه شو ستلای.[1]

زه له طالبانو سره د مذاکرو پلوی نه يم. حکومت بايد دغه ستونزه له هغوي سره د جګړې او د وسلې کارولو له لارې حل کړي. هغوي زمورِ دښمنان دي. ۱۲ کاله کيږي چې زمورِ حکومت له هغوي سره خبرې اترې کول غواړي او هغوي يې له مورِ سره په سوله کې ژوند کولو ته رابللي، خو هغوي هيڅکله دا نه ده منلې. د دغو ۱۲ کلونو په اوږدو کې، هغوي هره شيبه مورِ وژلي يو، زمورِ پر خلکو يې بريدونه کړي، زمورِ لوستي اشخاص يې ترور کړي او زمورِ ښارونه يې رنګ کړي، خو حکومت لا اوس هم له هغوي سره مذاکره غواړي او هغوي ته اجازه ورکوي چې زمورِ په حکومت کې برخه واخلي. مورِ د هيواد د اتباعو په توګه طالبان نه غواړو؛ مورِ غواړو چې له هغوي سره جګړه وکړو.[1]

زيات شمير ګډونوالو دا احساس کاوه ، چې د هغوي لپاره يوازې وروسته له هغې د طالبانو او نورو وسله ډلو بيا يو ځای کيدنه د منلو وړ ده ، چې هغوي د ترسره شويو جرمونو او سرغړونو لپاره مجازات شي او په رسمي ډول له تاوتريخوالی لاس واخلي ، دا د دې ښکارندوی ده ، چې جدي سرغړونې يې ترسره کړي ، د معافيت پلوي نه دي.[23] ځينو هم داسې فکر کاوه ، چې له ټولنو سره يو ځای شوي هغه يې بايد د حکومت تر تعقيب لاندې وي او هره کړنه يې بايد وڅارل شي.[24] د سلا مشورو په يوه مورد کې ، يو ځای کيدنه د نورو لپاره له طالبانو سره د يو ځای کيدو د يوه هڅوونکي فکتور په څير ګڼل کيده ، په دې انګيرنه چې هغوي به د ياغيتوب د غړې په څير د خپلو اعمالو په وړاندې د ليږو يا هيڅ عواقبو منونکي وي.[25]

په يو شمير سلا مشورو کې بيا يو ځای کيدنې ته د يوه شکمن امکان په څير کتل کيده.[26] ځينو ښځو د دې وړانديز کاوه ، چې د بيا يو ځای کيدنې لپاره د اسلام په اړه ښوونه مهمه ده او ټول يو ځای شوي طالبان بايد د تاوتريخوالی سره د پريکون يو ليکلی سند لاسليک کړي.[27] د دې وړاندیز وشو ، چې د يوې بريالۍ بيا يو ځای کيدنې لپاره د کاري يا اقتصادي او ښوونيزو فرصتونو برابرول به د حکومت لپاره يوه ګټوره وسيله وي.[28] ځينو ګډونوالو د دې احساس کاوه ، چې ټولنې په تيره بيا ښځې کولای شي چې د مذاکرو او د پخلاينې د شرايطو په اړه د عامه پوهاوي د لوړولو له لارې له بيا يو ځای کيدنې سره مرسته وکړي ، چې په دې سره به ټولنې له دې خبرې شي ، چې ولې بايد طالبان له ټولنو سره بيرته يو ځای کړای شي.[29]

زمورِ ټولنه پرته له دې چې هغوي ومني بل انتخاب نه لري، او کيدای شي له دغې لارې مورِ هغوي له تاوتريخوالي راوګرځو. لومړي هغوي بايد د پلان کولو لپاره ښځې د سولې په پروسه کې شاملې کړي، څو په دې ډول د ټولو ميرمنو او د ټولنې پوهاوي لوړ شي، چې هغوي دې ته وهڅول شي څو له خپلو ټولنو سره د طالب جنګيالیو د يو ځای کيدنې هرکلی وکړي او دغه راز نور نارينه د سولې په پروسه کې د ګډون لپاره راوبلي.[1]

هغه څه چې مورِ [ټولنې] يې ترسره کولای شو د مذاکرو او د پخلاينې د شرايطو په اړه د عامه پوهاوي لوړول دي، څو ټولنې له دې خبرې شي، چې ولې بايد طالبان له خپلو ټولنو سره بيرته يو ځای کړای شي، او کيدای شي جنګيالیو ته د رسنيو يا د سولې په خبر اترو کې د هغوي د استازو له لارې رسيدنه وشي، کوم چې يوه ورځ نه يوه ورځ بايد ترسره شي.[1]

[23] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۵ ، ۴ ، په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۲

[24] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۵

[25] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۴

[26] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۳ ، په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۳

[27] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۴

[28] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۳

[29] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۳ ، په شمالي سميو کې سلا مشورې ۲

۴. ټولنه، کلتور او نارینتوب

په داسې حال کې چې د بامیانو او شمالي سیمو په ټولو سلا مشورو کې ځواب ویونکو په ډاګه کړه ، چې هغوي د کورنۍ د نارینه غړو او د ټولنې د غړو له خوا په ښه ډول حمایه کیږي ، خو له هرات ، ننګرهار ، لوګر ، کندهار او هلمند څخه ګډونوالو څرګنده کړه ، چې د کورنۍ نارینه غړي د سولې په پروسه کې د ښځو د ګډون ملاتړ نه کوي یا یې سخت مخالفت کوي. ویلای شو چې د نارینتوب ځینې نمونې (د نارینه هغه ځېره چې د "نارینتوب" په تصور بنا شوې وي) او د پلار سالاري دودیز جوړښتونه لکه قومي او مذهبي مشران په سوله کې د ښځو د ونډې اخیستلو په وړاندې خنډونه جوړوي. د اجباري ودونو ، په بدو کې د نجونو ورکول او د نجونو د لیک لوست مخالفت د دودیزو زیانمنونکو کړنو په ځیر یادې شوې.

د دې ارټیا یادونه وشوه ، چې قومي ، کورنۍ او ځمکنۍ شخړې باید د رسمي قضایي سیستم له لارې حل شي ، چې د ځینو په آند دا په افغانستان کې د سولې او امنیت اړین عنصر ګڼل کیده.[30] دا د قضایي سیستمونو د مرکزي کولو او تنظیمولو د ارټیا ښکارندوی ده ، خو په رسمي حقوقي قضایي چوکاټ کې د شخړو د حل د محلي میکانیزمونو یو ځای کیدنه او انضمام وهڅول شي. د لا زیات رسمي قضایي جوړښتونو په لور د بدلون هیله هغه څه دې چې کولای شي د ښځو په وړاندې د عنعنوي او مذهبي مشرانو له خوا د پلار سالاري د نظام د پالونکو په ځیر د تبعیض لوړ ریکاډ په ډاګه کړي. څرنګه چې یې د جي این ډبلیو پي د وروستي راپور له خوا سپارښتنه شوې ، دغه غیر رسمي میکانیزمونه زیاتره د ښځو په ګټه کار نه کوي یا د جنډر د برابري پر مرسته کوونکو کړنو باندې حاکم او تحمیل دي.[31] نو له دې امله ، د ښځو ، سولې او امنیت د اجنډا په دننه کې په محلي کچې د شخړو د حل له عنعنوي کړنلارې د یوه مرکزي سیستم په لور د بدلون یا په محلي کچه د جنډر د لا زیاتو مساوي اجراتو د منلو لپاره د هڅونې امکان شته. دا خورا مهمه ده چې حکومت (د ارټیا په صورت کې د نړیوالې ټولنې په ملاتړ) د قضایي مسلکیتوب او اغیزمنتوب پر تقویت تمرکز کوي. په دې برخه کې خنډونه د پام وړ دي ، په داسې حال کې چې قضا په افغانستان کې د فاسدې اداري په ځیر ګڼل کیږي ،[32] او پولیس د ښځو د ارټیا او مجبوریت پرمهال له دوي سره زیاتې او له ځواک څخه زیاته ناوړه ګټه پورته کوي..

په ورته وخت کې ، د ګډونوالو له خوا د ټولنې د نظریې په اړه په تکراري ډول یادونې دا حقیقت څرګندوي ، چې ځایي سلسله مراتبو او جوړښتونو ته په خورا درنښت کتل کیږي. له دې امله د سولې په پروسه کې هغه هڅې ډیرې ستایل کیږي او درنښت یې کیږي چې ټولنې په دې پروسه کې راشاملوي ، خو په عین وخت کې دوي د ملت په کچه د عمومي جوړښت برخې دي او د رسمي لارو چارو له طریقه د ټولنې ځینې کړنې معرفي کوي. همدارنګه د ټولنې او کورنۍ پر واحد ټینګار کول هم داسې یو فرصت پیژندل شوي ، چې د سولې او پخلاینې له پروسې سره مرسته کولای شي. یوې ښځې وویل چې کورنۍ تر ټولو لومړنۍ ټولنیز واحد دی. د ماشومانو په روزنه او پالنه کې د میندو او پلرونو ونډه او له تبعیض او تاوتریخوالي څخه د پاکو ارزښتونو تلقین کول پخپله یوه داسې وسیله ده ، چې په افغانستان کې د سولې له پرمختګ سره مرسته کوي.[33] نورو ګډونوالو په ټولنیزه کچه د ښوونکو په رول او نفوذ باندې بحث وکړ او د دغو وسایلو له لارې یې په سوله باندې د مثبتو لیدلورو د ترویج پر احتمالي اغیز باندې خبرې اترې ترسره کړې.[34]

۵. بشري امنیت

بشري امنیت او په ډیرو ساحو کې د شدیدو ارټیاوو کمښت په ځیرنه کې د ډیرو مهمو اندېښنو په ځیر راخرګند شوي ، چې په ټولو ولایتونو کې اشاري ورته شوې دي. په ځانګړي ډول ښوونه (په تیره بیا دنجونو او په عام ډول د ټولو وګړو لپاره)، روغتیایي پاملرنه او استخدام په مکرر ډول یاد شوي ، چې د سولې ، پرمختګ او د ښځو د دوامدارې

30 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲ ، ۳

31 زرین حامد (۲۰۱۲) "د ښځو شمیرنه- د امنیت شورا ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک: د مدني ټولنې د څارنې راپور ۲۰۱۲" د ښځینه سوله جوړونکو د نړیوالې شبکې پروژه http://www.gnwp.org/wp-content/uploads/2010/02/Afghanistan_Report.pdf ۵ مخ

32 د افغانستان د ریښتنولې د څار سازمان

33 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۳

34 په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۳

پياورتيا لپاره ډير اړين ګڼل شوي دي. په بامیانو کې د پانګوني په هڅوني ډير ټينګار شوی او په زيات شمير ولايتونو کې بنيادي جوړښتونه د يوې ډيرې مهمې اندېښنې په څير ياد شوي دي ، په تيره بيا د سړکونو د بيا رغونې او بهتره کولو اړتيا او د ښاري او کليوالي سيمو ترمنځ د سړکونو شتون. بيا هم هغه اندېښنې چې په ډيالوګ کې د ښځو له خوا يادې شوې دي ، هغه تمايلات څرګندوي ، چې سړکونه ، ښوونه او روغتيايي پاملرنه په ټول افغانستان کې د بنسټيزو اندېښنو په څېر څرګندې شوې دي.[35]

د مباحثو پرمهال د ولايتونو ترمنځ اختلافات هغه مهال راڅرګند شول ، کله چې له ګډونوالو وپوښتل شول ، چې هغوي څه فکر کوي ، چې په يوه يا دوو راتلونکو کلونو کې سوله او امنيت به د کومې تر ټولو مهمې لاسته راوړنې پر بنسټ تر لاسه شي. په داسې حال کې چې په کندهار ، هلمند ، خوست او پکتيا کې د سولې او امنيت په دوديز درک او پوهې ټينګار شوی (د ځانمرګو بريدونو مخنيوی ، له طالبانو سره جوړ جاړی) ، خو په بامیانو ، هرات ، ننګرهار ، لوګر او اروزګان کې داسې شاخصونه د مهمو شرايطو په څير رامنځ ته شوي ، چې په جنډر باندې يې زيات ټينګار کړی ، په ځانګړي ډول د پريکړو نيولو په پروسه کې د ښځو لپاره د ګډون فرصتونه. په عمومي توګه په دغه سند کې بشري امنيت د امنيت د عامو اندېښنو په څير د برابر اهميت وړ ګڼل شوی. د مثال په ډول ، کله چې وپوښتل شول چې دوي کوم شي ته اړتيا لري ، څو په خپلو ټولنو کې د سولې او امنيت شتون احساس کړي ، په بامیانو ، هرات ، خوست ، پکتيا او اروزګان کې ګډونوالو په ځانګړي ډول د سړکونو جوړولو ته اشاره کړې وه.

استخدام او اقتصادي فرصتونه هم په مکرر ډول د سوله ييز افغانستان لپاره د مهمو اجزاو په څير ياد شوي دي. په مباحثو کې د ښځو لپاره د اقتصادي فرصتونو اړتيا يوه مرکزي اندېښنه وه او ځينو ښځو احساس کاوه ، چې دغه شرط د مذاکرو په هره پروسه کې يو مهم شرط ګڼل کيږي.[36] اقتصادي فرصتونه د داسې لامل په څير هم پيژندل شوي دي ، چې د طالبانو او وسله والو مخالفو ډلو په لیکو کې د جنګياليو له استخدام څخه مخنيوی کوي.[37]

د بشري حقونو په مباحثو کې دغه ټينګار څرګندوي ، چې د ۲۰۱۵ کال د سولې طرحه چې په سياسي کچه وربانديې ډير ټينګار شوی ، د ټولنو له اړتياوو سره تړاو نه لري. د دې لپاره چې داسې يوه سوله ممکنه شي چې عام وګړي په کې ګډون وکړي او د ټولنې د ګډون له لارې پايښدونکې ځانګړنه ولري ، بشري امنيت بايد په پلان کې ونيول شي. ګډونوال له هغو سياسي او نړيوالو جنبو څخه ، چې بايد رسيدګي ورته وشي ، ښه خبر وو سره له دې چې بهرنۍ پاليسي او د دوديز امنيت اندېښنې د سولې لپاره محوري ګڼل کيږي ، خو بيا هم دوي د پانګوني ، ښوونې د نجونو د ښوونې په ګډون ، او د بې وزلۍ کمولو اړتياوې په پلان کې شاملې کړې دي.[38]

[35] کايت شاوی (۲۰۱۳) د اسيا بنياد. "افغانستان په ۲۰۱۳ کال کې: د افغان وګړو سروې" http://asiafoundation.org/resources/pdfs/2013AfghanSurvey.pdf

[36] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۴ ، په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۲ ، ۱ ، ۴ ، ۳

[37] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۴ ، ۳

[38] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۴ ، ۵ ، ۳ ، ۱

په افغانستان کې د سولې، پخلاینې او امنیت په لور د پرمختګ فرصتونه

سره له دې چې د سولې او پخلاینې د اوسنۍ پروسې او د ۲۰۱۵ د سولې د طرحې په اړه یو شمیر خورا مهمې ننګونې او ستونزې په ګوته شوې دي، خو په افغانستان کې د سولې د پرمختګ لپاره زیات شمیر فرصتونه هم پیژندل شوي دي.

۱. د پخلاینې بیا کتنه

د افغانستان د سولې او پخلاینې ملي خپلواک کمیسیون (د سولې د تحکیم پروګرام یا پي تي ایس) د ۲۰۰۵ کال په مې کې په دې موخه تاسیس شو، چې د وسله والو ډلو ترمنځ دښمنۍ پای ته ورسوي، د ملي ستونزمنو مسلو لپاره حل لارې پیدا کړي، او د پخوانیو بې عدالتیو په پایله کې د رامنځ ته شویو ټپونو درملنه او د کورنۍ جګړې د تکراریدو مخنیوی وکړي. خو له دې سره سره، دغه پروګرام "مخالفینو" ته په لاس رسي باندې هم ټینګار کړی او له ټولنو سره د دوي بیا یو ځای کیدنه یې پر مخ وړې.[39] په افغانستان کې د سولې، پخلاینې او عدالت لپاره د عمل پلان، چې د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون، د ولسمشر د دفتر او یوناما له خوا په ۲۰۰۵ کال کې طرحه شوی و، پخلاینه او ملي یووالی د څلورو کلیدي کړنو څخه ګڼلې دي، او یو شمیر مفکورو ته یوازې په لفظي ډول خدمت شوی، لکه "د قربانیانو د دردونو او ټپونو درملنه" او د حقیقت موندنې د میکانیزمونو یا د پخلاینې د کمیټو د تاسیسولو مفکوره یې معرفي کړې ده.[40] خو د عمل دغه پلان په عملي ژوند کې ډیر لږ اغیز درلود[41] او له هغه وروسته نوښتونو د پخلاینې مفکورې ته ډیره کمه پاملرنه کړې ده. د ۲۰۱۵ طرحه او د سولې او پخلاینې پروسې په دې توګه هر ډول مشخصې پالیسي ګانې له پامه غورځولې، چې د جګړې پر مهال یې د سرغړونو د احتساب غوښتنه کوله او یا یې د داسې تګلارو او میکانیزمونو د تاسیس هڅه کوله چې پخوانۍ ناخوالې حل او ملي رغونه رامنځ ته کړي. د پخوانیو بې عدالتیو یادونه او د سولې او پخلاینې په پروسو کې د اغیزمن ګډون نشتون، د دې سبب ګرځیدلي، څو ښځې احساس کړي چې پخلاینه او بیا یو ځای کیدنه له بشري حقونو څخه د سرغړونو او د جنګي جرمونو په تیره د هغو په وړاندې چې د طالبانو له خوا ترسره شوي دي، له عدالت او احتساب پرته د منلو وړ نه دي.

"پخلاینه" ګډونوالو په بیلا بیل ډول تعریف کړې ده، لکه د ښځو او نارینه وو ترمنځ برابري، د تبعیض نشتون، د تاوتریخوالي پای ته رسول، مدني مسوولیت، د ټولو اتباعو د حقونو په رسمیت پیژندل او د یوه ګډ بنسټ پیدا کول. سره له دې، ځینې ګډونوال د پخلاینې په مانا نه پوهیدل چې څرنګه دغه اصطلاح تعریف او هغه د افغانستان په شرایطو کې تطبیق کړي.[42]

د هغو کسانو له ډلې څخه چې تعریفونه یې وړاندې کړل، له ګډونوالو څخه د یوه تعریف هم د پخلاینې داسې تصور نه رانغاړي، چې د طالبانو لپاره په هره کچه چې وي د دوي د تیرو سرغړونو په وړاندې له جنایي عدالت پرته

39 سورندرینی ویجی راتنی، "افغانستان: د سولې د راتلونکې په اړه خبرې،" د نړیوالې همکارۍ کانادایي مرکز، مارچ ۲۰۰۸، http://www.ccic.ca/_files/en/what_we_do/002_peace_2008-03_afghanistan_study.pdf

40 د افغان حکومت په افغانستان کې د سولې، پخلاینې او عدالت د عمل پلان، ۶-۷ جون، ۲۰۰۵ https://www.cimicweb.org/cmo/Afghanistan/Crisis%20Documents/Governance_Participation/Government%20of%20Afghanistan/Policy%20Documents/Action%20Plan%20on%20Peace,%20Justice%20and%20Reconciliation.pdf

41 ساري کوو، "له عمل پرته یو پلان: د سولې، عدالت او پخلاینې لپاره د افغان حکومت د عمل پلان،" د افغانستان د تحلیل شبکه، ۲۰۱۲

42 په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۲، ۳، ۴

بخښنه ولري. په ډيالوګ کې حقوقي چوکاټونو ته په منظم ډول د عدالت د مناسبو وسيلو په ډول اشاره شوې. هغو ښځو چې سلا مشورې ورسره شوې ، په دې اړتيا بحث کړی ، چې د جرمونو مرتکبين په تيره بيا جنګي هغه او هغه مرتکبين چې د ملکي وګړو په وژنه کې ښکېل وو ، بايد د محاکمو له لارې ور سره حساب کتاب ترسره شي.

مورِ لا اوس هم نه پوهيږو چې پخلاينه څه ته وايي. د دې مانا دا ده چې ملګري شو او يو بل سره و نه وژنو. زمورِ په هيواد کې د پخلاينې مانا دا ده، چې يو لوری د دې حق لري، چې بريد وکړي او خلک ووژني او بل لوری يعنی حکومت او د خلکو ملاتړی د دې حق نه لري، چې له بې ګناه خلکو دفاع وکړي. زمورِ ډيری خلک په دې نه پوهيږي چې پخلاينه څه ته وايي او دغه اصطلاح په حقيقت کې پر دوي ډير منفي اغيز کوي. کله چې دوي د پخلاينې په اړه واوري، نو فکر کوي، چې طالبان به بيا راشي او زمورِ پر هيواد به واکمن شي.[1]

حتی که پخلاينه د دوي جرمونه هم وبخښي، سره له دې بيا هم دوي بايد د ترسره شويو جرمونو په وړاندې له قانون سره سم مجازات شي. که چيرې يو څوک طالب وي يا عادي وګړی، او د انسان وژنې د جرم مرتکب شوي وي، يا يې ورسره مرسته کړې وي، نه بايد په ټولنه کې آزاد ژوند وکړي، او که نه د دې کار پايلې به د راتلونکي لپاره ډيرې خطرناکې وي.[1]

تاسې نه شي کولای چې له مجرمينو سره د هغو جرايمو په اړه مذاکره وکړئ، چې دوي ترسره کړي دي؛ هغو يتيمانو ته به څه ځواب ولرو، د چا چې مور او پلار يا مشران ورونه وژل شوي وي؟ څوک به د دوي راتلونکې تضمين کړي؟ د دوي راتلوکې ويجاړه شوې ده. عدالت بايد پلی شي. مجرمين بايد د هغو زيانونو ځواب ووايي، چې دوي يې لامل وو.[1]

د دغو ملاحظاتو سره سره ، ډيری ګډونوالو ومنله ، چې د ډيالوګ اړتيا نه يوازې له طالبانو سره بلکې له ټولو وسله والو ډلو سره د حزب اسلامي او د نورو مخالفو وسله والو په ګډون د يوې وسيلې په څير شته ، څو په افغانستان کې سوله او امنيت ټينګ کړي. ګډونوالو په عام ډول دا ومنله چې ټولې خواوې بايد په يوه ټرون کې شاملې وي ، چې د ګډ بنسټ پر اساس يو نوی حکومت تقويه کوي او ازادې ، منصفانه او عام شموله ټاکنې د سولې او امنيت لپاره اړينې دي.

د سختو ملاحظاتو او نيوکو ترڅنګ ، د ځينو ګډونوالو له خوا يوه داسې منځلارې هيله مندي ښکاره شوه ، چې له طالبانو سره د حل يوه لار پيدا کړي ، په ځانګړي ډول دغه هيله مندي د طالب جنګيالیو او د دوي مشرتابه ته د دوي په پيغامونو کې غبرګون وموند. ځينو احساسوله ، چې د اسلام په اړه د ناسمو درکونو واضح کول به په دې پروسه کې د مخنګ د پيل د نکټې په څېر مرسته وکړي.[43] نورو بيا هغو خوښتونو ته اشاره وکړه ، چې په جنډر پورې اړه لري او له طالبانو يې وغوښتل چې د دوي د مينډو او خويندو په وړاندې له تاوتريخوالي ډډه وکړي او ويل يې ، چې دوي به د ورونو په څير د هغوي درناوی وکړي.[44] ځينو ګډونوالو د تاوتريخوالي د پای ته رسولو لپاره د افغانستان په راتلونکو نسلونو باندې تکيه کوله او د ځوانانو لپاره يې د يوې داسې راتلونکې په رامنځ ته کولو ټينګار کاوه ، چې د ټولو افغانانو لپاره وي.[45]

دغه احساسات څرګندوي ، چې که چيرې سمه تګلار غوره شي نو په افغانستان کې د سولې په لور پرمختګ ناشونی نه دی. ښځو په عام ډول د تاوتريخوالي د پای ته رسولو هيله څرګنده کړه او تر سمو شرايطو لاندې به دوي د هر فرصت پلټنه وکړي ، چې د افغانستان د سولې لپاره دغه لار وموميِ.

۲. د سولې د خبرو اترو لپاره د ښځو شرايط

د مذاکرو د پايلو د يوې برخې په څير ، د ۲۰۱۵ کال طرحه تعينوي ، چې طالبان او نورې وسله والې ډلې بايد له القاعده او نورو ترهګريزو ډلو سره خپلې اړيکې پرې کړي او په څرګند ډول له تاوتريخوالی لاس واخلي. طرحه

[43] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۴

[44] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۳

[45] په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۲

همدارنګه وايي ، چې پايلې بايد د ټولو افغانانو لپاره د منلو وړ وي او د افغانستان د ملي ګټو په خدمت کې به وي ، چې يو خپلواک او اسلامي هيواد دی. هغو ښځو چې مشورې ورسره شوي ، احساسوله چې د مذاکرو لپاره مخکيني شرايط بايد لږ تر لږه تشخيص کړي ، چې بنسټيزې ازادي ګانې بايد په هيڅ ډول محدودې نه شي ، د ښځو او ماشومانو حقونه له پامه و نه غورځول شي ، د مذاکرو خواوې بايد افغانان وي ، د اساسي قانون بايد ساتنه وشي ، او له طالبانو بايد وغوښتل شي ، چې دوي له ښه نيت سره مذاکرو کې برخه واخلي او امنيت تضمين کړي او د هغو شرايطو متابعت وکړي ، چې دوي به خپلو ژمنو ته وفادار پاتې کيږي.

د ښځو د ګټو په تړاو د سولې د خبرو اترو په صورت کې ، ګډونوالو له حکومت او طالبانو وغوښتل څو دا تضمين کړي چې په تيرو لسو کلونو کې به د ښځو لاسته راوړنې ساتي ، د قران له احکامو سره به سم عمل او د قانون پيروي به کوي او د دې تضمين به ورکوي ، چې د دوي حقونو به ورڅخه نه اخيستل کيږي. د اساسي قانون ساتنه په ټولو مباحثو کې د مهمې موضوع په حيث مطرح وه.

۳. د مدني ټولنې او ښځو د ګډون لپاره د چاپيريال برابرول

مدني ټولنه په يوې ټولنه کې خورا مهم رول لري ، د خلکو اواز اوچتوي ، پر چارو نظارت کوي ، حکومت د خپلو ژمنو په وړاندې احتساب ته رابولي او اتباع خپلو مدني مسوولیتونو ته متوجه کوي او د عامه پوهاوي په لوړولو او په دفاعي فعاليتونو کې بوخته وي. مدني ټولنه له جګړو په وروسته موده کې لا مهم نقش په غاړه لري ، چيرې چې ټولنيزې اړيکې پر قطبونو ويشلې وي او حکومت نوی او بې ټيکاوه وي. په داسې شرايطو کې د مدني ټولنې فعالين د خلکو د اړتياوو او د ارادې د بيانولو د يوې وسيلې په حيث کار کوي ، د ډلو ترمنځ اړيکې ټينګوي او ډيالوګ او پخلاينه پياوړې کوي. په يو شمير ولايتونو کې ګډونوالو احساسوله ، چې مدني ټولنه مسوولیت لري څو خيړنيزې چارې ترسره کړي.[46] زيات شمير ګډونوالو وړاندیز وکړ ، چې مدني ټولنه بايد خيړنيز فعاليتونه ترسره او له تبعيض پرته له ټولو افغانانو د دوي د ليدلورو په اړه وپوښتي او پايلې يې د مدني ټولنې ، د بشري حقونو د مدافعينو او رسنيو له لارې خپرې کړي ، څو يقيني کړي ، چې د سولې پروسه د خلکو له ارادې سرچينه اخلي.[47] دغو ښځو همدارنګه له هر ولايت څخه د يوه منتخب استازي وړاندیز وکړ ، چې د مدني ټولنې ليدلوري مرکز او فعالو خبرې رسنيو ته ورسوي.[48] ښځو په خوست او پکتيا کې وړاندیز وکړ ، چې د پارلمان د غړو ، د مدني ټولنې د سازمانونو او قومي مشرانو څخه له يوې جوړې شوې غونډې سره د سولې په خبرو کې د خلکو د ارادې په اړه سلا مشورې وکړي.

د ملګرو ملتونو د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک سره سم د پايښت لرونکې او پايښت لرونکې سوله تر لاسه کول له دې سره تړلي ، چې ښځې په کې برخه واخلي او اړتياوې او ليدلوري يې د سولې په پروسه کې شامل کړای شي.[49] ګډونوالو خپله هيله مندي څرګنده کړه ، چې ښځې او د هغوي اړتياوې د افغانستان لپاره د سولې په پروسه کې ووينې. د سولې په طرحه کې ښځې يوازې يو ځلي په وروستي پراګراف کې يادې شوې دي ، چې د دې سند د اخلاقي دريځ يوه عمومي کتنه برابروي او د ټولو افغانانو حقونو ته اشاره کوي. په هيڅ يو ځای کې دې اړتيا ته اشاره نه کوي ، چې د ښځو اندېښنې او ليدلوري د سولې او پخلاينې په پروسه کې شاملې کړي. سره ېيره پر دې ، هغه اندېښنې چې طالبانو يا نورو ډلو ته د احتمالي امتيازاتو له امله راولاړيږي ، چې ښايي د ښځو پر حقونو او ازادي ګانو تيری وکړي ، په سند کې د منلو وړ نه دي. د سولې د عالي شورا له ۷۰ غړو څخه يوازې ۹ تنه يې ښځې دي. دغه تشې د ډيرې اندېښنې وړ خبرې دي او د دې ښکارندوي دي ، چې په جنډر پورې اړوند او د ټولنې نظريې د سولې او

[46] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۵ ، په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۳ ، ۴

[47] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۵ ، په شمالي سيمو کې سلا مشورې ۳ ، ۴

[48] په جنوبي سيمو کې سلا مشورې ۵

[49] د ښځو لپاره د ملګرو ملتونو پرمختيايي پانګه "سيدا د امنيت شورا ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک: یو چټک لارښود" http://www.unwomen.org/~/media/Headquarters/Media/Publications/UNIFEM/CEDAWandUNSCR1325eng.pdf p مخ ۵

پخلاینې په پلانونو کې د هغو د شاملولو سیاسي اراده نشته.

ګډونوالو په یوه ډول احساسوله چې د ښځو حقونه او هغه بریاوې چې په تیره لسیزه کې تر لاسه شوې ، له طالبانو او نورو وسله والو مخالفو ډلو سره په هیڅ ډول د خبرو وړ نه دي. ښځو همدارنګه احساس کاوه ، د دې لپاره چې د ښځو ګټې خوندي شي ، هغوي باید په فعال ډول د سولې په خبرو کې ګډون وکړي ، او په افغانستان کې په نورو پروسو کې د هغوي سمبولیک شتون باید په فعال هغه بدل شي.[50] یوې ښځې روښانه کړه ، "د ښځو د ګټو د استازیتوب لپاره باید د ښځو یو رسمي پلاوي شتون ولري. زموږ هدف دا نه دی ، چې ګواکي نارینه زموږ د ګټو دفاع نه کوي ، خو زه فکر کوم یوازې ښځې په دې پوهیدای شي چې موږ څه ته اړتیا لرو او څرنګه احساس کوو."[51] د ښځو چارو وزارت ، چې د ښځو د قانوني حقونو د خوندي کولو او ویړلو لپاره د حکومت د سیاسي او ټولنیزو پالیسي ګانو د پلي کولو مسوولیه اداره ده ، په سلا مشورو کې یوازې یو ځل یاد شوی ، خو د دې احساس کیده ، چې هغوي باید په افغانستان کې د ښځو د ګټو د خوندي کولو او ساتلو لپاره لا فعال واوسي.[52]

د اغیزمن ګډون د یقیني کولو لپاره ، زیات شمیر ښځو د دې احساس کاوه ، چې هر هغه ښځه چې د سولې په عالي شورا ، یا د سولې او پخلاینې د پروسو اړوند په بل هر حکومتي ارګان کې برخه اخلي باید یو شمیر ورتیاوې او مهارتونه ولري لکه باید لوستې وي ، لوړې زده کړې یې کړې وي ، د ښځو د حقونو په اړه بسیا معلومات ، د اسلام او افغاني کلتور په اړه هر اړخیز درک ، پیاوړي منطق او د استدلال مهارتونه ولري ، د ژبې رواني او فصاحت ولري ، او د ښځو د حقونو د مدافعې لپاره پیژندل شوې او په دې برخه کې بسیا تجربه ولري.[53] نورو اضافه کړه ، چې هغه باید همدارنګه په دواړو ښاري او کلیوالي سیمو کې د ښځو د ورځنۍ ژوند په اړه پوهاوي ولري او د ټول افغانستان د ښځو اړتیاوې په پام کې ونیسي نه یوازې د خپلې سیمې او ټولنې.[54] دغه راز د هغو ښځو د ګډون د اهمیت یادونه هم شوه ، څوک چې له قدرت څخه ناوړه ګټه نه پورته کوي.[55]

۴. ولسواکي

په ټولو ۲۰ ولایتونو کې د ډیالوګ پر مهال د ولسواکۍ یادونه وشوه او هغه په کلکه د سولې له موضوع سره په تړاو کې وګڼل شوه. په ځینو سلا مشورو کې ، ګډونوالو له طالبانو سره مذاکرې د افغان اتباعو په څیر خپل ډموکراتیک حق ګڼلو ، په کوم سره چې هغوي د دې حق لري چې په حکومت کې برخه واخلي.[56] طالبانو ته له اروزګان څخه د ګډونوالو پیغام په دې ډول و ، "راځئ له موږ سره زموږ په هڅو کې د افغانستان د جوړولو لپاره یو ځای شئ. دا ممکنه ده چې د نظریو مشترکه نکته پیدا کړو. تاسو افغانان یاست ، نو ولې له ولسواکي څخه کار نه اخلو؟"[57] نورو باید د سولې په خبرو کې د افغان ټولنې سره سلا مشورې د ولسواکي یوه اړتیا ګڼله.

۵. مذهب

د ډیالوګ پر مهال ګډونوالو په داسې طریقه د اسلام تعبیرلو یادونه وکړه ، چې په ټولنه کې د ښځو د حقونو د مساوي ګډون ملاتړ کوي. دوې په دې نظر وو ، چې د مذهب په اړه له حده زیات محافظه کار تعبیر او مفهوم "مردود" دی او دا په افغان کلتور او دود کې د اسلامي اصولو د ځایولو سمه لار نه ده.[58] اسلام د افغان جوړښتونو ترمنځ یووالي ترویجوي[59] او لکه څرنګه چې د ګډونوالو له خوا توضیح شوه ، مذهبي مشران کولای شي

50 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۱ ، ۵ ، په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۳

51 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲

52 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲

53 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲ ، ۵

54 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۵

55 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۴

56 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲ ، په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۲

57 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲

58 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۵ ، په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۳ ، ۴

59 رودنی جی ، ستیورد (۲۰۱۱) "افغانستان په یوې نړیوالې شوې نړۍ کې- یو پراخ لید لوری." په نړیوال کیدونکي افغانستان: تروریزم ، جګړه او د ملت جوړونې فصاحت (د ډک پوهنتون خپرونې ، کتابونه) ۱. ۱۰۱۶

په هیواد کې د وګړو ترمنځ مثبت نفوذ اعمال کړي.[60] مذهبي شبکې او عقاید په داسې ډول کارول شوي چې دا څرګندوي چې حقونه او مساوات کولای شي د ټولنیزې پانګې او سولې په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي. د دغه تړاو د تړلاسه کولو یو فرصت لکه څرنګه چې په ډیالوګ کې هم په ګوته شو ، د ملایانو ښوونه وه. په ورته ډول د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی د موسسې په مخکښۍ څېړنه کې چې د ښځو له سیمه ییزې شبکې سره یو ځای ترسره شوې وه ، مذهبي مشران د بدلون د کلیدي استازو په څیر په ګوته شوي وو.[61]

په هره مباحثه کې ، ګډونوالو همدارنګه د اسلام په سوله ییزتوب تمرکز وکړ. ګډونوالو د دې وړاندیز وکړ ، چې د اسلام د اصیلو او ریښتینو اصولو پر بنسټ د طالبانو او نورو سرغړونکو فعالینو روزنه به د سولې په راوستلو کې مرسته وکړي.[62] زیاتو ییې په ډاګه کړه ، چې د ښځو او بشري حقونه اسلامي اصول دي او باید درناوی ییې وشي.

۶. د ښځو ټولنیز خوځښتونه

د افغانستان په تاریخ کې ، د ښځو حقونه د یوې سیاسي وسیلې په څیر کارول شوي او د ښځو په ټولنیز یا سیاسي موقف کې پرمختګ زیاتره له محافظه کاره عکس العملونو سره مل و.[63] ډیالوګ د حمایتي شبکو شدیده ارتیا په ډاګه کړه ، څو د ټولنې ګډون او ټولنیز ملاتړ له سیاسي ګډون سره ګډ او یو ځای کړي. په دې اړه بشپړ پوهاوي موجود و ، چې ښځې د ټولنې نیمه یي برخه جوړوي او د ولسواکۍ له اصولو سره سم د مساوي نفوذ مستحقې دي. د افغان ښځو تر مالکیت او مشرتابه لاندې د ټولنیز خوښځت ساختار چې د افغانستان د خلکو محیطي ارتیاوې او ځانګړنې په پام کې نیسي ډیر پایښدونکي او د عکس العملونو مخه نیونکي وي ، تردې چې ډیر تند له بهر څخه رهبري شوي بدلون وي. مباحثو وښودله چې د دغه نوي

دوي [طالبان] باید راشي او له موږ سره د سولې په مبارزه کې برخه واخلي. موږ پر دوي غږ کوو، ګرانه وروره! بیرته خپلو کورونو ته را وګرځئ او د سولې له پروسې سره یو ځای شئ. افغان میرمنې سوله غواړي. ستاسې ښځې او ماشومان ښه روزل کیدای شي زده کړې کولای شي. موږ وایو، چې ستاسو خویندې او میندې یو.[1]

ټولنیز خوځښت ساختار جوړ شوی دی که څه هم لا تر اوسه له ننګونو او خنډونو سره مخ دی. سربیره پر دې ، لکه څنګه چې د ګډونوالو له خوا وویل شول ، لا اوس هم دې ته ارتیا ده ، چې د کلیدي شریکبانو له خوا په مختلفو ډولونو مرستې وشي ترڅو د دغه ټولنیز خوځښت ساختار نور هم وده وکړي. په ځانګړي ډول ښځې روزنې ، د مدني ټولنې غوندو ، رسنیو او د معلوماتو پانو ، مالي او مادي منابعو ، قانوني او رسمي مرستو او داسې زده کړو ته ارتیا لري چې په مسلکي غوندو کې سره تبادله کیږي. څرنګه چې افغان میرمنې د ظهور یوه ډیر ښکاره نمونه ده ، چې نړیوال اصول له خپلو محلي شرایطو سره یو ځای کوي ، چې بله برخه کې به ور باندې خبرې ترسره شي ، د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک کولای شي چې د دغه ضروري ګډو هڅو لپاره د یوې اغیزناکې اړیکې په څیر کار وکړي ، څو په نړیوالو فعالینو ، مدني

60 په جنوبي سیمو کې سلا مشورې ۲ ، ۳ په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۲ ، ۳ ، ۴

61 د ښځو د سیمه ییزې شبکې راپور (۲۰۱۳)"له جګړې او لیرد څخه راوتل: د افغان میرمنو په اړه لید لوري." http://www.womensregionalnetwork.org/images/uploads/C_C_Afghanistan.pdf ۲۹ مخ

62 په شمالي سیمو کې سلا مشورې ۴

63 شیرین خان برکي (۲۰۱۱) "له امان الله تر کرزي د ښځو سیاستونه: د افغان میرمنو د وضعیت ښه کولو لپاره ښوونې." د نه ماتیدونکو پر څمکه: د معاصرو افغان میرمنو ژوند ، د جینفر هیت او د اشرف زاتیدی له خوا تصحیح شوي ، (۲۰۱۱) (د کلفورنیا پوهنتون خپرونه ، بیرکیلی ، لندن)

ټولنې او په افغانستان کې په ولسي کچه د ښځو ټولنیز خوځښت پرمختک وکړي.

په داسې حال کې چې زیاترو افغان او نړیوالو د مدني ټولنې سازمانونو په بریالیتوب سره دغه پروژې او تخنیکونه تطبیق کړي دي ، لا اوس هم د دې اړتیا شته ، چې د ښځو لپاره د نورو شبکو د جوړولو په فرصتونو غور وشي ، چې په مسلکي بنسټ نفوذ اعمال شي ، د پایښدونکې پوهې او د ظرفیت د لوړولو لپاره زیاتې روزنې برابرې شي او د اړتیاوو د اظهارولو او د معلوماتو د لیږدولو لپاره نورې تکلارې وموندل شي. د ۲۰۱۵ کال د سولې په طرحه کې د ښځو د لیدلورو نشتوالی څرګندوي ، چې باید په سیاسي فعالینو او پریکړه نیونکو باندې فشار راوړل شي ، چې په سوله کې د ښځو ګډون ته د یوې اړتیا په توګه وګوري. د مدني ټولنې فعالیتونه باید په دغې پروسه کې شامل کړای شي ، ترڅو د دوي منابع په اعظمي ډول بسیج او ګټه ور څخه پورته کړای شي. د ۲۰۱۴ کال څخه وروسته کله چې نړیوال شتون نور نه وي ، دې ته اړتیا ده چې د سولې او امنیت په مسلو کې له ښځو سره په دوامدره توګه یو ځای کار وشي ، ترڅو حکومت او د سولې عالي شورا ښځې د سولې او امنیت په اړه د پریکړې نیولو په پروسه کې د یوه مرکزي فکتور په څیر وپیژني. افغان میرمنې ، چې د مدني ټولنې د میکانیزمونو په متې یې خپل اواز پورته کړي ، اوس هم نورو فرصتونو ته اړتیا لري ، چې د سولې په روانه پروسه باندې خپل اثر او نفوذ وغوړځوي.

۷. د حقوقو پر بنسټ ولاړې مباحثې

د خبرو اترو په بهیر کې ، ګډونوالو د انسانانو ، ښځو او افغان اتباعو په څیر د خپلو حقونو او ازادي ګانو څخه ډیره ښه خبرتیا وښوده او د هغوي د ساتنې اړتیا یې په ګوته کړه. دوي د حقوقو پر بنسټ ولاړ ډیالوګ باندې موجه باور څرګند کړ او د ښځو حقوق او بشري حقونه یې مشروع حقونه او د افغان ټولنې لپاره اړین اصول وګڼل.

امیتا اچاریا د شخړو د مخنیوي او د هغوي په وړاندې د ځواب ویلو لپاره د نړیوالو او ځایې میکانیزمونو د یو ځای کولو پر اهمیت بحث وکړ.[64] د حقوقو پر بنسټ د ولاړ ډیالوګ خپلول چې د ګډونوالو له خوا څرګند شو ، څرګندوي ، چې افغان میرمنې د بشري حقونو نړیوال

که چیرې افغان ټولنه د سلا مشورو برخه نه وي، نو بیا د سولې خبرې اترې د څه او چا لپاره دي؟ زه ډاډه یم چې دا د افغان ټولنې لپاره دي، خو که چیرې افغان ټولنه د دې برخه نه وي، بیا فکر کوم چې مورږ د ولسواکۍ له اصولو او معیارونو سره جوړ جاړی کوو.[1]

مورږ له طالبانو پوښتنه کوو، چې د قران شریف په کومه پاڼه کې لیکل شوي، چې جګړه وکړئ او خلک ووژنئ. زمورږ خبره واورئ او نور بس کړئ. اسلام سوله ده، له خلکو سره دوستي ده او ښځو ته درناوی دی.[1]

میکانیزمونه د خپلې افغان ټولنې له جوړښتونو او ټولنیزو کړنو سره پخلا کوي.

ښځو ته باید د دې فرصت ورکړل شي ، څو څرګنده کړي ، چې ددوي لپاره کومې ځانګړې مسلې ډیر اهمیت لري او یا دوي هغه د سولې ، امنیت ، ورځنۍ ژوند او آزادیو په وړاندې د خنډونو په څیر ویني. په ورته وخت کې دوي باید تقویه شي او د کمپاین کولو داسې وسایل ولري ، چې پر دغو اړتیاوو او لیدلورو باندې چې د بشري حقونو له نړیوالو معیارونو سره اړخ لګوي پوه شي او هغه نورو ته ورسوي. هغه اړتیا چې بشري حقونه له هغو شاخصونو سره یو ځای کوي ، چې د ګډونوالو له خوا طرحه شوي او خلکو ته د دې فرصت ورکوي ، چې د خپلو اړتیاوو لپاره تر ټولو ډیر مناسب د حقونو پر بنسټ ولاړ چوکاټ په ګوته کړي ، باید د مدني ټولنې او د نړیوالو ډونرانو له خوا پرې ټینګار ترسره شي. په دې ډول ، د ښځو د حقونو وده له هغو کسانو څخه نه بیلیږي ، چې غواړي ورڅخه برخمن شي.[65]

[64] امیتا اچاریا (۲۰۱۳) "د آر۲پي او د نورم دودول: د نورم د جریان د یوه چوکاټ په لوري" د ساتنې لپاره نړیوال مسوولیت ، ۵ مخ. ۴۶۶- ۴۷۹

[65] بلاود ، جولي. "د افغانستان مدرنیزه کول: بیا رغونه ، انتقالي حکومت او د جندر سیاستونه په نوي اسلامي جمهوریت کې." د منځني ختیځ انسان پیژندنه ۱.۷

نتیجه او سپارښتنې

په داسې حال کې چې سیاسي او امنیتي لیږدونې لا په مخ کې پرتې دي ، د ۲۰۱۵ طرحې بیا کتنه څرګندوي ، چې نور زیات درسونه زده او سمونونه ترسره شي ، څو د بدلون لسیزې ته تر نننوتو د مخه د سولې او پخلاینې هر اړخیزه او بریالۍ پروسه رامنځ ته شي. دغه لیږدونې یو فرصت برابروي ، چې موجودې پالیسي ګانې ، کړنې او میکانیزمونه بیا وارزول شي. د دغو سلا مشورو د موندنو او د ګډونوالو د نظریو او لیدلورو پر بنسټ د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسه مدني ټولنې ، نړیوالې ټولنې ، ډونرانو او افغان حکومت ته لاندنۍ سپارښتنې صادروي.

حکومت

د حکومت مسوولیتونه په ټولو ولایتونو کې یاد شوي دي ، چې د مرکزي او محلي حکومتونو او ادارو له خوا د ښځو ، سولې او امنیتي میکانیزمونو په اړه د حکومت د مسولیتونو او اجرااتو په اړه د توقعاتو د پیاوړي تمایل ښکارندوی دی. د سولې خبرې اترې چې په ۲۰۰۱ کال کې یې د افغانستان راتلونکې مشخصه کړې وه ، عادي خبرې نه وې ، ځکه چې په دې خبرو کې د طالبانو استازي چې د شخړې یوه ډیره مهمه خوا وه ، نه وو شامل. پر هغو شرایطو ټینګار کول ، چې په طرحه کې یې یادونه شوې ، یو عمومي نظر موجود و ، چې طالبان کیدای شي د افغانستان د سوله ییزې راتلونکې یوه برخه وي ، خو یو قوی احساس د دې ترڅنګ دا و ، چې د سولې په پروسه کې د دوي د استازو ګډون باید تر پیاوړي نظم لاندې راشي او ژور فکر وربانديې وشي. د سیاسي لیږد په دې خورا مهم پړاو کې او د نوې ادارې سره د سولې پالیسي او جوړښتونه باید په شدید ډول بیا و ارزول او وکتل شي.

په ملي او ولسي کچه د سولې، بیا یو ځای کیدنې او پخلاینې د ټولو اړخونو په اړه د یوې څرګندې پالیسي او ستراتیژي جوړول

سیاسي لیږد یو بې ساری فرصت برابروي ، چې د افغان حکومت اوسني تشکیلات او پالیسي په کره ډول بیا و ارزول شي. د ۲۰۱۵ کال د سولې د طرحې بیا کتنې یو شمیر ډیرې مهمې نیمګړتیاوې ښکاره کړې دي- تر ټولو مهم د جنډر په اړه د حساسو چوکاټونو نشتوالی ، په ملي او د پالیسي په کچه په یو اړخیز ډول ټینګار ، چې مدني ټولنې او د ولس په کچه مشورو ته په کې کمه پاملرنه شوې او د عملي او داسې پلانونو او هدفونو نشتون چې د تعقیب او تر لاسه کولو وړ نه وي. نوې اداره او افغان حکومت په بشپړ ډول باید له دې فرصت څخه ګټه پورته کړي او د سولې ، بیا یو ځای کیدنې او د پخلاینې د پروسو د ټولو خواوو په اړه یوه روښانه پالیسي او ستراتیژي غوره کړي او پر مخ ولاړ شي.

تیرو ناخوالو او ملي رغونې ته د رسیدګي لپاره د تګلارې جوړول

تیرو ناخوالو ته رسیدګي د ملي رغونې د پروسې یوه ډیره مهمه برخه ده ، چې دوامداره سوله او پخلاینه پیاوړې کوي او د بیا یو ځای کیدنې پروسه ټولو خلکو ته د منلو وړ ګرځوي. که څه هم د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام یاغیانو ته رسیدګي کړې ، چې د دوي اندښنو ته ځواب ووایي ، خو د افغانستان د خلکو سره ناخوالو ته په ټولیز ډول د موقتو تبلیغاتو پرته ځواب نه دی ویل شوی او په پخلاینې پورې تړلې تیرې هڅې په دې کې پاتې راغلې لکه د افغانستان د سولې او پخلاینې پروګرام ، د سولې د تحکیم پروګرام ، په افغانستان کې د سولې ، پخلاینې او عدالت د عمل پلان ، او د سولې د عالي شورا

هڅې او په تيره بيا د ۲۰۱۵ کال طرحه. ناخوالو ته د ځواب ويلو ميکانيزمونه کولای شي ډيرې ښې ولري. له شخړو څخه را وروسته په نورو هيوادونو کې، په دغو ميکانيزمونو کې محاکمې او د جګړو پر مهال د جنايتونو لپاره رسمي قضايي پروسې، د حقيقت موندنې او پخلاينې کميسيونونه، ملي او محلي ډيالوګ له دې عمومي هدف سره چې، دواړه خواوې دې احساس ته نږدې کړي، چې د جګړو پرمهال ناخوالې او تيري په عام ډول منل شوي. دغه سلا مشورو په ډاګه کړه، چې ښځې اوس هم ددې احساس نه کوي، چې د دوي دردونه په عام ډول سره منل شوې وي. له دې حقيقت سره سره چې د طالبانو له نسکوريدو ۱۳ کلونه تيريږي، د تيرو ناخوالو يادونه اوس هم راپورته کيږي او د يوې پايښدونکې سولې د پروسې او بيا يو ځای کيدنې په لار کې خنډونه رامنځ ته کوي.

له افغان وګړو سره سلا مشورې او د دوي پوهاوی

له سلا مشورو څخه را پيدا شوې يوه ډيره مهمه نکته دا وه، چې په عام ډول داسې نظر موجود و، چې د سولې هر پروسه بايد پخپله د افغانانو له خوا پر مخ يورل شي او د سولې د اوسنيو پروسو په اړه د افغانانو پوهاوی به د دوي بريالتوب په ځانګړي ډول د بيا يو ځای کيدنې په اړه خورا مهم وي. له افغان ښځو، نارينه وو او ځوانانو سره يو زيات شمير سلا مشورې شوې دي لکه د سولې او ديموکراسي د يوشانوالی د موسسې دغه ځيرنه، دغه هڅې لاندني فعاليتونه هم رانغاړي لکه د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا "د عدالت لپاره غږ" ليکنه، چې له ۶۰۰۰ زياتو افغانانو او له ۴۰۰ زياتو افغان ګډوالو سره د سولې، پخلاينې او بيا يو ځای کيدنې په مسلو باندې هر اړخيزې ملي سلا مشورې رانغاړي، د سولې لپاره وروستۍ ځايي طرحې چې د مدني ټولنې د ۱۱ شبکو او د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون له خوا تيارې شوې او له ۴۶۴۸ افغانانو سره چې د افغانستان له ټولو ولايتونو څخه وو مشورې شوې وې او يو شمير نور نوښتونه لکه د سولې او ديموکراسي د يوشانوالی د موسسې له خوا د سولې او بدلون د مسلو په اړه د ولس په کچه له ښځو سره د روانو سلا مشورو لړۍ. دغو پروژو ته بايد د افغان حکومت له خوا د معلوماتو د ارزښتناکې سرچينې په ډول وليدل شي، چې د راتلونکو پاليسيو، پروګرامونو او پروسو لپاره د معلومات ښه سرچينه ده، چې د افغانانو له نظره د ملي هڅو په چوکاټ کې په محلي کچه روانو مسلو ته رسيدګي کوي او د عمودي مديريت د پاليسيو پر ځای چې د سولې، بيا يو ځای کيدنې او پخلاينې هڅې يې له ۲۰۰۱ راهيسې رهبري کولې، کارول کيدای شي. که څه هم دا مهمه ده، چې په ولسي کچه خلک فکر وکړي، چې حکومت له دوي سره مشورې کوي او دوي د سولې په پروسه کې ګډوي. د سولې ولايتي کميټې يا بله مهمه حکومتي اداره کولای شي، چې خلکو ته د رسيدنې له لارې دغه هدف تر لاسه کړي.

د سولې، بيا يو ځای کيدنې، پخلاينې او امنيت په اړه د سولې په ټولو مذاکرو او د پريکړې نيولو په ټولو پروسو کې د ښځو د پام وړ شتون يقيني کول

د هغو ښځو اکثريت چې مشورې ورسره شوې هغه څه تاييد کړل، چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا د ۱۳۲۵ شمېره پريکړه ليک يې د سولې په پرسو کې د ښځو د ګډون په اړه وايي؛ دا خبره ډيره اړينه ده. د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ۱۳۲۵ شمېره پريکړه ليک د شخړو په حل کولو او مخنيوي کې او د سولې په راوستلو کې د ښځو رول تاييدوي او د سولې او امنيت د پالنې او پرمختګ لپاره د دوي د مساوي ونډې او ګډون پر اهميت ټينګار کوي او د دې اړتيا يادونه کوي، چې د شخړو د مخنيوي او حل کولو په اړه په پريکړو کې ګډون وکړي. له سلا مشورو څرګنده شوه، چې ښځې احساس کوي، چې د دوي محض شتون د ګډون مانا نه لري. هغو ښځو چې مشورې ورسره وشوې، دغه اړتيا په ګوته کړه، چې داسې ښځې بايد غوره شي، څوک چې ليک لوست کولای شي او ښې زده کړې يې ترسره کړې وي، د ښځو د حقونو څخه باخبره وي، د اسلامي او افغان دودونو څخه هر اړخيزه پوهه ولري، ښه استدلال وکړي، ښه مهارتونه يې زده وي، د تجربې خاوندانې وي او د ښځو د حقونو لپاره منل شوې مدافعه کوونکې وي، څو يقيني کړي، چې د سولې او امنيت په پروسو کې ګډون کوونکې ښځې کولای شي په ارزښتناک ډول برخه واخلي او د افغان ميرمنو اړتياوې، ليدلوري او نظريې په اغيزناک ډول تمثيل او بيان کړي.

د مخکينيو شرايطو په ايجادولو کې د ښځو پر اړتياوو غور کول

هغو ګډونوالو چې سلا مشورې ورسره وشوې ملاحظات درلودل او د دې اړتیا یې په ډاګه کړه ، چې له جنګیالیو څخه په کلکه امتیازات وغواړي. مباحثو په ډاګه کړه ، چې ښځې به له طالبانو سره په ټولو مذاکرو کې د دې ضمانت وغواړي ، چې د ښځو او بشري حقونه ، اساسي قانون په اوسنۍ بڼه او د ښوونې حق خوندي کړي. ځینو دا هم یاده کړه چې د جګړې خواوې په حکومتي ادارو کې د صلاحیت او ځواک څخه محرومې شي. د طالبانو او نورو ډلو غړي باید بې وسلې شي او له تاوتریخوالي لاس واخلي ، ترڅو د ټولنې په کچه بیرته د ټولنې له خوا یې هرکلی وشي او هغو کسانو چې سخت جرمونه یې ترسره کړي ، لکه د ملکي وګړو وژنه باید مجازات او د محاکمو او قانوني سیستم له خوا چلند وشي.

له طالبانو سره د مذاکرو لپاره د ښکاره او څرګندو پلانونو جوړول

حکومت له طالبانو سره د هرې مذاکرې په اړه باید له احتیاط کار واخلي او یقیني کړي ، چې مخکې له دې چې کومه هڅه وشي او یا امتیازات ورکړل شي ، باید له عامو خلکو سره سلا مشورې وشي او پروسه تر څارنې لاندې وي. په دې مشخصو ګامونو کې باید داسې چارې شاملې وي لکه چې په پروسه کې د ګډون لپاره د عامو منظمو غونډو برابرول او له رسنیو سره مشورې ، څو تضمین کړي ، چې د مذاکراتو په اړه معلومات په ازاد ډول موجود وي او د هڅو له لارې تر لاسه کیدای شي ، او د دې یقیني کول چې دغه هڅې لیرې پرتو سیمو ته هم ورسیږي. سربیره پر دې ، په داسې حال کې چې له مذاکرو څخه هغه اندېښنې راڅرګندې شوې ، چې په لرو پرتو سیمو او ولایتونو کې خلکو ته د معلوماتو د رسولو په اړه اندېښنې شته ، ځانګړې هڅې باید ترسره شي ، چې معلومات د ځایي رسنیو او د هیواد په دغو برخو کې د ټولنې د شوراګانو له لارې ورسیږي. د سولې عالي شورا ، نړیوال ډونران او نړیواله ټولنه ، باید تضمین کړي ، چې ښځې د دې فرصت ولري ، چې د سولې او امنیت په لار کې د خنډونو په اړه خپلې نظریې او لیدلوري بیان کړي ، که چیرې د سولې پروسه د دې ادعا کوي ، چې په ولسي کچه له ګډون او ښکیلتیا څخه برخمنه ده.

د اساسي قانون ساتنه او پالنه

یوه بله مهمه موضوع چې په ډیالوګ کې راڅرګنده شوه ، اساسي قانون دی. له هغو ښځو سره چې مرکې شوې دي څرګنده شوه چې ښځې په دې پوهیږي چې اساسي قانون د دوي ساتنه کوي او د افغانستان د دیموکراتیک هویت سمبولیکه او عملي بڼه برابروي. د ښځو د حقونو په اړه قانوني میکانیزمونه داسې لومړني ګامونه دي چې د ښځو د حقونو په وړاندې په روشونو کې بدلون راولي او اساسي قانون د ښځو لپاره د تحفظ یوه مشخصه کچه برابروي. له دې امله ، حکومت باید یقیني کړي چې د سولې په ټولو مذاکرو کې د اساسي قانون ساتنه او پالنه کیږي. د اساسي قانون د احکامو په اړه ، د هغو معلوماتو په ګډون چې نالوستي کسان یې موخه وي ، باید نور معلومات برابر شي ، په دې اقداماتو کې دراډیو له لارې کمپاینونه او داسې ورکشاپونه شاملیږي ، چې په مسلکي معلوماتو بنا وي.

د سیاسي بدلونونو په وړاندې د ښځو د حقونو ساتنه

د ښځو د حقونو په اړه د کرزي د حکومت اجرات یوه مرکبه سلسله[66] وه او د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی د موسسې ګډونوالو د دې اړتیا څرګنده کړه چې مرکزي او ځایي حکومتونه باید په خپلو ژمنو ودریږي او د ښځو په وړاندې احتساب ته حاضر شي. په عمومي ډول ، د سیاسي باور مساله په بحثونو کې له یوې اندازې شک او تردید سره مخ شوه ، ځکه چې داسې باور شته چې ځینو سیاستوالو او حکومتي ادارو په تیرو وختونو کې خپلې ژمنې ماتې کړې. سره له دې ، د خپلو حقونو د غوښتنې ښکاره اظهار او داسې غوښتنه چې حکومت د ښځو د حقونو په وړاندې مسوول وګڼي د دې ښکارندوی دی چې د خوشبیني یو احتیاطي وړاندې تګ شته. سیاستوال او حکومتي چارواکي باید ډیر دې ته پام وکړي چې د ښځو د حقونو او برابرۍ په وړاندې ژمنه څرګنده کړي. دا به ګټوره وي چې د لاس رسي لپاره کړنلارې طرح شي چې په ذریعه یې ښځې

[66] اشرف ذاهدي (۲۰۱۴) "د راتلونکي لپاره د افغان میرمنو هیلې"
http://www.e-ir.info/2014/03/23/afghan-womens-hopes-for-the-future/#.Uy7WOAWbauU.facebook

په مدني ټولنه او په ټولنه کې د مشرتابه په موقف کې کولای شي له سیاسي اشخاصو سره په مستقیم ډول خبري وکړي ، څو خپلې ارټیاوې او اندېښنې په ډاګه کړي.

د پولیسو او امنیت وده

د پولیسو نشتوالی ، په تیره بیا په کلیوالي سیمو کې او د ښځینه پولیس افسرانو کمښت د ښځو په اړه کلیدي امنیتي ستونزې ګنل شوي. په دې سربیره ، د دولتي امنیتي چارواکو ترمنځ د جنډر پر بنسټ پوهه او حساسیت د پوښتنې وړ ده. نوره روزنه او ښوونه او همدارنګه د پولیسو په لیکو کې ښه تصفیه کولای شي په پولیسو د خلکو باور زیات کړي او د ساتنې د میکانیزم په څېر د دوي په اجراتو کې ښه پرمختک راولي. د پولیسو په لیکو کې د نورو ښځو شاملول کولای شي د ښځو لپاره هغوي ته لاس رسي په ځینو داسې شرایطو کې ښه کړي چې کلتوري او ټولنیز خنډونه یې په منځ کې پراته وي.

عدالت ته د لاس رسي ښه والی او د مخنیوی په چارو ټینګار

د دې په ځای چې د ستونزو د حل لپاره دودیزو لارو چارو ته مراجعه وکړو ، برخه وال باید هغه بدلون پیاوړي کړي چې د مخنیوي په چارو باندې زور اچوي. ټولنه ، کلتور او کورنۍ د مهمو موضوعګانو په څېر مطرح کیږي. څرنګه چې ځایي او ټولنیز جوړښتونه د عدالت د تنظیم لپاره تل مناسبې طریقې نه وي ، له دې امله د کلیو د شوراګانو او د قومي او مذهبي مشرانو له نفوذ د دې لپاره ګټه پورته شي ، چې شخړې او ستونزې رامنځ ته نه شي. د ټولنې په کچه د دې فرصت شته چې خلکو ته داسې وسایل په لاس ورکړي چې له شخړو څخه مخنیوي وکړي بې له دې چې د ښځو او نجونو په حقونو تیری وشي ، لکه څنګه چې د اختلافونو د حل ځینې دودیزې لارې یې کوي. په دې سربیره ، دغه لار د دې امکان برابروي ، لکه څنګه چې د ځینو ګډونوالو له خوا یې ملاتړ شوي ، د رسمي قضایي سیستم له مرکزیت او تقویې سره مرسته کوي.

مدني ټولنه

د مدني ټولنې د فعالیتونو اهمیت په ټولو ولایتونو کې ویل شوی ، په تېره بیا د مدني ټولنې د تکلارو او غوندو ، د ورکشاپونو او روزنې اهمیت. د مدني ټولنې نقش د سولې او پخلاینې په شرایطو کې ډیر ارزښتناک دی او د دې لپاره د یوې وسیلې په څېر کارول کیږي ، چې ملي پروسې د عام ولس ارټیاوې او نظریې منعکسوي او د دې فرصت برابروي ، چې د ډلو ترمنځ اړیکې پیدا کړي. په دې ډول د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسې د مدني ټولنې لپاره لاندنۍ سپارښتنې کوي:

د سولې او امنیت د مسلو لپاره له ټولو زاویو څخه د مدني ټولنې د ځار میکانیزم تاسیسول

د سولې او امنیت د مسلو په اړه د مدني ټولنې له خوا د نوښتنو سلسله په ټولو کچو ارټیاوې ، نظریې او تشبثات منعکسوي چې د افغان میرمنو ، ځوانانو او نارینه وو له نظره ځایي ، ملي او نړیوالې پروسې رانغاړي. د سلا مشورو ، او د پرمختک د ارزونې او پیمانې بیلا بیل روشونه باید سره همغږي شي څو مدني ټولنه د دې فرصت پیدا کړي ، چې په ګډه سره د سولې او امنیت پروسې له ټولو زاویو څخه د انفرادي هڅو د یو ځای کولو په ذریعه تر څارنې لاندې راولي.

د انټرنیټ له لارې د ارزونې د ګډو جوړښتونو طرح کول

په داسې شرایطو کې چې د ۲۰۱۴ راهیسې د پروژو او پروګرامونو لپاره موجوده منابع له کمښت سره مخامخ کیږي ، اړینه ده چې د مدني ټولنې سازمانونه داسې میکانیزمونه طرح کړي چې له مختلفو غیر حکومتي سازمانونو څخه سبقونه زده کړي او معلومات ورسره شریک کړي. په ځانګړي ډول ، هغه سازمانونه چې د ښځو ، سولې او امنیت په مسلو کار کوي باید د خپلو پروګرامونو برياوې او ناکامي سره شریک کړي او خپل لومړني ارقام یو له بل سره شریک کړي. دغه کار به تر ډیره حده د پروژو تکراري طرحې او تطبیق امکان راتېټ کړي. دغه کار به همدارنګه سازمانونو ته د دې فرصت برابر کړي چې د یو بل د فعالیتونو له اغیزو څخه سقونه زده کړي. یو

عمومي او د ګټه اخيستونکو لپاره ثبت شوی پلټفورم بايد طرح شي چې په ذريعه يې د ارقامو ، څارنې او ارزونې راپورونه او د خاصو شرايطو په اړه تبصرې او د اغيزو ارزونه له يو بل سره شريک کيدای شي څو د ځېرنو سرچينې زياتې کړي ، او دا يقيني شي چې پروګرام د کره معلوماتو په رڼا کې په دې ډول طرح شي چې نه يوازې موندنې او سبقونه سره شريک شي ، بلکه د پروژې لومړني ارقام هم سره شريک شي. (د مرکې نوټونه او متمرکزو ګروپي مباحثو نوټونه).

په يوه غږ خبرې کول

له حکومت او د سولې د عالي شورا سره د کار کولو په بوه وخت کې مدني ټولنه دې ته اړتيا لري چې يوه متحده جبهه جوړه او خپلې غوښتنې په کې شاملې کړي. د مدني ټولنې هغه سازمانونه چې د ښځو ، سولې او امنيت مسلو د دفاع لپاره کار کوي ، د موفقيت ډير چانس لري که چيرې دوي وکولای شي څرګنده کړي چې د سولې او جنډر په اړه د مدني ټولنې ګډې اندېښنې په مشترک ډول اظهار کړي او د ټولو ګډونوالو اواز وښيي چې له سازمانونو سره کار کوي. د معلوماتو او پوهې د شريک کولو طرحه به د مدني ټولنې سازمانونو ته د دې فرصت ورکړي چې د خپلو ګټه اخيستونکو څخه په ګډه د استازيتوب ادعا وکړي ، خپلې غوښتنې له سره برابرې کړي ، خپل پروګرامونه تنظيم او د سولې د عالي شورا او حکومت د پريکړو کولو په سيستم باندې د اغيز کولو چانس زيات کړي.

د بشري مصونيت پر بنسټ د ظرفيت لوړول

بې وزلي ، د بنسټيزو جوړښتونو نشتون ، کمزورې روغتيايي پاملرنه او د بشري مصونيت نورې مسلې په ډيالوګ کې د سولې او امنيت په لار کې د خنډونو په څېر ګڼل شوي. مدني ټولنه د دې کمزورتيا په رفع کولو کې کولای شي له دې لارې خپل نقش ادا کړي چې د مهارتونو د لوړولو روزنيز پروګرامونه او د کار موندنې فرصتونه برابر کړي او د کارونو د رامنځته کولو نوښتونه پياوړي کړي. په دې سربيره ، د مدني ټولنې پروژې کولای شي د خدمتونو د ښه کولو په موخه لکه د سړکونو جوړول ، ښوونه او روغتيايي پاملرنه ، خدمت وکړي. ټولنو ته په دې اړه روزنه ورکول چې څنګه له دې مسلو څخه دفاع وکړي او د هغو لپاره کمپاين وکړي ، ټولنو ته د دې وړتيا ورکوي چې مقاومت وکړي او د مدني برخې اخيستنې فعاليتونو ته دوام ورکړي.

د حقونو پر بنسټ د فعاليتونو تقويه کول

د مدني ټولنې ځينو ډلو داسې فعاليتونه پيل کړي چې د حقونو پر بنسټ د ښوونې او د مذهبي مشرانو لپاره د ظرفيت د لوړولو لپاره دي. د ښځو د ظرفيت د لوړولو لپاره پروګرامونه چې د حقونو پر بنسټ له خپلو اړتياوو څخه استازيتوب وکړي هم بايد په دې لړ کې شامل شي. د دغو فعاليتونو دوام د دې امکان پيدا کوي چې په چاپيريال کې شته اړتياوې ښکاره شي چې په عام ډول محسوسيږي او د ښځو ظرفيت د خپلو کمزورتياوو په رفع کولو او هغوي ته په لاس رسي کې زياتوالی رامنځ ته کوي. دغه پروګرام دغه راز د نړيوال اتحاد احساس پياوړی کوي چې په مټه يې افغان ميرمنې پوهيدای شي چې د دوي ليدلوري نړيوال اتبار لري. پروګرام د نړۍ په نورو برخو کې چې ښايي د سولې ، امنيت او د بشري حقونو په برخو کې ورته اړتيا وي او لرليدونه ولري ، له افغان ميرمنو سره پيوستون غښتلی کوي. د ملګرو ملتونو د امنيت د شورا د ۱۳۲۵ شمېره پريکړه ليک په اړه د افغانستان د ښځو په ټولنيزو خوځښتونو کې د پوهاوي زياتول کولای شي د يوې اغيزناکې وسيلې په څېر کار وکړي او په نړيواله ټولنه فشار راوړي چې د ښځو موقف په مذاکرو کې د حقوقي چوکاټ په دننه کې او حقونو پر بنسټ د اصل پيروي تقويه کړي.

د شبکو د تاسيسولو فرصتونه، غونډې او روزنې

ګډونوالو له هغو سره چې ورته نظريات لري د غونډو او د مدني ټولنې د سازمانونو له خوا د روزنې په اهميت ټينګار وکړ. مدني ټولنه د دې وړتيا لري چې داسې ميکانيزمونه په کار واچوي چې ښځې د هغو په ذريعه خپل غږ اوچت کړي او په بل ډول به دوي د اظهارولو فرصت و نه لري. د سولې د مذاکرو په اړه ، ګډونوال د مدني ټولنې کړنلار په محلي ، ملي او نړيواله کچه پېژني او د داسې وسيلې په ډول ورته ګوري چې له مذاکره چيانو سره په خبرو کې ور څخه کار اخلي.

د افغان میرمنو لپاره د فرصتونو ایجادول چې په ټوله نړۍ کې د ښځو د حقونو له مدافعینو سره اړیکې ټینګې کړي

سلا مشورو څرګنده کړه چې ښځو په افغانستان کې په اساني سره وکولای شو د بشري حقونو د نړیوالو اصولو میکانیزمونه د محلي افغان ټولنیزو جوړښتونو او ټولنیزو فعالیتونو په چوکاټ کې تطبیق کړي. د حقونو پر بنسټ قوي تبلیغ او د نړیوالې ټولنې له خوا تقویه شوي اصول هغه ټول امکانات په ګوته کوي چې د ښځو د حقونو له مدافعینو سره په نورو شرایطو کې او له نورو لرلیدونو سره اړیکې ټینګې شي ، د سولې ، بدلون د ښځو د حقونو د پرمختک او د مشترکو اصولو پر بنسټ د مرستو د برابرولو په اړه د نظریو او تجربو د تبادلې په موخه له نورو هیوادونو سره کړنلارې ایجاد شي.

د اساسي قانون د احکامو په اړه د پوهاوي زیاتول

په مباحثو کې په سلا مشورو باندې ټینګار کول څرګندوي چې دغه طریقه د ښځو لپاره یوه ګټوره دفاعي او قانوني وسیله ده. زیاتې هڅې باید وشي څو تضمین کړي چې ښځې خپل حقونه ، لکه څنګه چې په اساسي قانون کې یاد شوي ، پېژني ، سره له دې چې په جغرافیایي لحاظ یا د لیک لوست پر بنسټ د معلوماتو نشتوالی او محدودیتونه شته ، بیا هم د ښځو د حقونو په اړه معلومات تر لاسه کیدای شي.

د رسنیو د راپور ورکولو زیاتول او غښتلي کول

چاپې رسنۍ ، تلویزیون او راډیو د ښځو لپاره ډیرې ښې وسیلې برابروي چې وکولای شي د سولې په پروسه کې ګډون وکړي او همدارنګه یوه پیاوړې سرچینه ده ، چې د ښځو په وړاندې په ټولنه کې د خلکو په کړنلارو کې بدلون راوستلی شي. که څه هم د ژورنالستانو او د رسنیو د کارمندانو لپاره د ښځو د حقونو او برخې اخیستنې په اړه روزنه کولای شي مرسته وکړي ، چې څنګه دغه مسلې معرفي او انځور کړي ، له دې پرته هم د ژورنالستانو د روزنې په برخه کې ډیر کار شوی دی چې په عمده ډول یې ښې او منفي اغیزې درلودې. نور فرصتونه باید وکارول شي چې د رسنیو له پرمختک یا د رسنیو لپاره د داسې نظریاتو او معلوماتو برابرول چې د جنډر په اړه برابر اهمیت ولري.

نړیواله ټولنه / ډونران

دغه درک بیا بیا تر سترګو شوی ، چې افغانستان دې ته اړتیا لري ، چې ظرفیتونه لوړ کړي ، ترڅو په خپلو پښو ودریږي او د سولې خبرې او پروسې پخپله د افغانانو له خوا رهبري شي. سیاسي او اقتصادي خپلواکي ، ښه پرمختک په دې هیواد کې د پایښدونکې سولې لپاره خورا اړین دي.[67] د ملي یو والي او د ملي مالکیت تقویه کول د یوې ډیرې مهمې موضوع په څیر په ډیالوګ کې راڅرګند شول ، که څه هم زمور ګډونوالو د دې اړتیا یادونه وکړه ، چې نړیواله ټولنه باید د مرستو یوه مشخصه اندازه وساتي په ټېره بیا د مالي چارو او منابعو په برخه کې. د ۲۰۱۵ کال په طرحې کې د اندېښنو په یادولو سره ګډونوالو په دې اړتیا ټینګار وکړ ، چې په سیمه ییزه کچه په کره ډول یو متوازن پرمختک طرحه شي ، چې ګاونډي هیوادونه د نفوذ له اعمال څخه ډډه وکړي او یا د افغانستان په کورنیو امنیتي چارو کې د دوي منفي رول احساس نه شي او مخنیوی یې وشي. د دغه ټکي په پام کې نیولو سره ، د سولې او دیموکراسي د یوشانوالی موسسه نړیوالې ټولنې او ډونرانو ته لاندنۍ سپارښتنې کوي:

پر افغاني نوښتونو پانګونه

مباحثو پر هغه حد باندې ټینګار وکړ ، چې د ۲۰۱۵ طرحې په سیاسي او لوړه کچه په دې کې پاتې راغلې ، چې د افغان میرمنو او په عموم ډول د ټولنې اړتیاوو او اندېښنو ته ځواب ووایي. د سولې هره پروسه چې پایښت یې موخه وي ، باید په ټولنو باندې ډیر تمرکز وکړي. له ټولنو سره خبرې اترې او په محلي کچه د سولې او پخلاینې پیاوړې کول باید د نړیوالې ټولنې لپاره د تل لپاره د لومړیتوب په قطار کې وي. نړیوال ډونران باید په هغو مالي او مادي

[67] سورکی ، استري. "په افغانستان کې دولت جوړونه: یوه متناقضه ښکېلتیا" د مرکزي اسیا سروې ۳۲ ، ۳ شمیره (۲۰۱۳): ۲۷۱-۲۸۶.

منابعو کې پانګونه وکړي ، چې د افغانانو له خوا رهبري کیږي او پیل شوې دي او د سولې د پروسو لپاره ټولنې بسیج کوي او په خاص ډول د سولې او امنیت په پلانونو کې د ښځو د لیدلورو د شاملو پر اهمیت باندې تمرکز کوي.

د جنډر د مسایلو رانغښتونکې د سولې او پخلاینې د پروسې مدافعه

په ځانګړې ډول او د ملګرو ملتونو د صلاحیت په تړاو چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک له خوا یې یادونه شوې ، د ښځو لیدلوري ، تجربې او اړتیاوې باید د سولې لپاره په هر پلان کې ځای کړای شي. نړیواله ټولنه باید په ښکاره ډول ومني چې اوسنۍ طرحه د جنډر مسلې په کافي ډول نه دي شاملې کړي او پلان کړي. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک ژبه او اصول نه یوازې دا چې په پراخه کچه د تطبیق وړ ده ، بلکه د پریکړه لیک او د هغه د اصولو په اړه پوهه او خبرتیا باید په ولسي کچه او دغه راز د افغان حکومت او نړیوالو فعالینو له خوا ، چې دغو اصولو ته ژمن دی ، ترویج شوي.

د لا زیاتې هر اړخیزې او په ولسي کچه د سولې او پخلاینې د پروسې لپاره مدافعه

نړیوال فعالین باید په فعال ډول له داسې پروسې څخه دفاع وکړي ، چې په هغې کې ولسونه برخه اخلي. په داسې حال کې چې په سیاسي او ملي کچه مذاکرې او پخلاینه د سولې او ټیکاو لپاره اړین دي ، پایښدونکې سوله په پای کې د افغانستان په خلکو پورې تړاو پیدا کوي. نړیوالې ټولنې د افغان حکومت او طالبانو او نورو سیمه ییزو فعالینو ترمنځ د خبرو اترو په تسهیلولو تمرکز کړی. هغوي باید په ورته ډول داسې نوښتونه پیاوړي کړي ، چې د دغو پروسو په اړه لازمې مرستندویه ولسي کړنلارې بسیج کوي.

له ټولنو سره په همکاري کې د سیمه ییز امنیتي تحلیل ملاتړ

له ټولنو سره باید د سیمه ییز امنیت په اړه او د هغه د پایلو په اړه په منظم ډول سلا مشورې وشي ، ترڅو یو مرتبط او اړوند تصویر ترلاسه شي ، چې محلي او ملي قوتونه او بعدونه رانغاړي. نړیواله ټولنه باید په محلي کچه د امنیتي شبکو وده تقویه کړي او له ښځو سره پر محلي امنیتي اندېښنو باندې د سیمه ییزو بعدونو د اغیزو په اړه سلا مشورې وشي. د ښځو ، سولې او امنیت د څېړنیز انستیتوت په راپور کې ښودل شوي ، چې ښځې په ګاونډیو هیوادونو کې د کورنیو پر غړو نفوذ لري ، له دې امله د دوي تجربې په سیمه ییز امنیت کې د موازنې معلومولو لپاره ، چې د سولې د پروسې یوه برخه ده ، ډیرې ګټورې تمامیدای شي.[68]

په اجنډا کې د ښځو د حقونو د ساتلو په موخه سیاسي فشار

د دې خطر شته چې له جنګې خواوو سره مذاکرې په دې تمامې شي چې ښځې شاتګ ته اړې شي او د ښځو د حقونو او ظرفیت د لوړولو په اړه امتیازات ومنل شي. په خبرو اترو کې یوه تکراري موضوع دا وه او په دې اړتیا ټینګار وشو چې دسولې په هره مذاکره کې باید د ښځو حقونه وساتل شي ، په ځانګړې ډول د تعلیم او په سیاسي ژوند کې د ګډون حقونه. د دې حقونو د تقویې لپاره ، نړیواله ټولنه باید د هغو پروژو لپاره مالي او مادي منابع برابر کړي ، چې د ښځو حقونو ته پاملرنه اړوي. د رسنیو هغه کمپاینونه تمویل کړي چې د ښځو حقونه بیانوي ، او د ښځو د برابر ګډون د اهمیت په اړه د حکومتي کارمندانو لپاره د روزنې لپاره مرستې برابرې کړي ، څو پایښدونکې سوله رامنځ ته شي. په پای کې ، نړیواله ټولنه کولای شي نړیوالې مرستې په دې پورې تړلې وګڼي چې ښځې باید دسولې په پروسه کې شاملې شي او په هره مذاکره کې د ښځو حقونه او ازادي ګانې خوندي وساتل شي. بیا هم ، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۱۳۲۵ شمیره پریکړه لیک کولای شي په دې روش کې د یوې ارزښتناکې وسیلې په څېر وکړي.

[68] د ډبلیو پی ایس د دویمې غونډې راپور (جولای ۲۰۱۳) "له شمیرو هاخوا: په محلي او ملي د پخلاینې په هڅو کې د سولې په ولایتي شورا ګانو کې د ښځو د پام وړ شاملونې یقني کول" http://www.riwps-afghanistan.org/site_files/13916841612.pdf

د ښځو د سازمانونو ترمنځ د همغږي تقویه کول د دې په ځای چې هغوي وویشي

په ځانګړي ډول د جنډر له پروګرامونو سره د ډونرانو د لیوالتیا سره سم د منابعو لپاره سیالي ښایي د هغو سازمانونو ترمنځ همغږي کمزورې کړې وي چې د ښځو په چارو کار کوي ، د دې په ځای چې هغه دغه همغږي تقویه کړي. ډونران باید له دې اغیزې خبر وي ، چې د تمویل لپاره اړتیا د سازمانونو تر منځ همغږي کمزوري کوي ، ځکه دغه ډول سازمانونه هڅه کوي یوزاینې ارزښتناک سازمانونه وي او په دې ډول منابع د ځان لپاره جذب کړي ، خو په دغه کار سره له نورو فعالینو سره چې د ښځو په مسلو کار کوي همغږي او د معلوماتو شریکول کمزوري کوي. د دغه بالقوه منفي پایلو څخه پوهاوي به ډونرانو ته د دې فرصت ورکړي ، چې داسې ستراتیژي یا همغږي کوونکي اصول وضع کړي ، چې دغه نامطلوبه اغیزه کمه کړي.

سرچينې او ماخذونه

بلاود ، جولي. "د افغانستان مدرنيزه کول: بيا رغونه ، انتقالي حکومت او د جندر سياستونه په نوي اسلامي جمهوريت کې." د منځني ختيځ انسان پيژندنه ۷ ، شمېره ۱ (۲۰۱۲): ۱۸- ۳۷.

برکي ، شيرين خان. "له امان الله تر کرزي د ښځو سياستونه: د افغان ميرمنو د وضعيت د ښه کولو لپاره ښوونې." د نه ماتيدونکو پر ځمکه: د معاصرو افغان ميرمنو ژوند: ، د جينفر هيت او د اشرف زاتيدی له خوا تصحيح شوي ، ۴۵- ۵۹. د کلفورنيا پريس بيرکيلی پوهنتون ، ۲۰۱۱.

د سولې عالي شورا. "د ۲۰۱۵ کال د سولې طرحه." http://www.foreignpolicy.com/files/121213_Peace_Process_Roadmap_to_2015.pdf, نومبر ۲۰۱۲.

د سپکو وسلو سروې ، "ډي ډي آر په افغانستان کې: کله چې دولت جوړونه او امنيت سره په ټکر کې وي." د سپکو وسلو په سروي کې ۲۰۰۹: د جګړې سيورې. د امريکا متحده ايالات: د کمبريج پوهنتون خپرونه ، ۲۰۰۹.

ستيورد ، رودنی جی. "افغانستان په يوې نړيوالې شوې نړۍ کې- يو پراخ ليد لوری." په نړيوال کيدونکي افغانستان کې ۱ ، د زبيدې جلالزی او ډيويډ جيفريس له خوا تصحيح شوي ، ۵۱- ۷۸. د دوکی پوهنتون خپرونه ، ۲۰۱۱.

سورکی ، استري. "په افغانستان کې دولت جوړونه: يوه متناقضه ښکېلتيا" د مرکزي اسيا سروي ۳۲ ، ۳ شمېره (۲۰۱۳): ۲۷۱-۲۸۶.

د اسيا بنياد. "د افغان وګړو سروی ۲۰۱۳." http://asiafoundation.org/country/afghanistan/2013-poll.php, ۲۰۱۳.

يونيفيم. "د ښځو سوله او امنيت: د سيدا او د ملګرو ملتونو د امنيت شورا ۱۳۲۵ شمېره پريکړه ليک: يو چټک لارښود." http://www.unwomen.org/~/media/Headquarters/Media/Publications/UNIFEM/CEDAWandUNSCR1325eng.pdf.

د ښځو سيمه ييزه شبکه. "له جګړې او ليږد څخه راوتل: د افغانستان په اړه ليد لوري." http://www.womensregionalnetwork.org/images/uploads/CC_Afghanistan.pdf, ۲۰۱۳.

ذاهدي اشرف. "د راتلونکي لپاره د افغان ميرمنو هيلې." اي-نړيوالې اړيکې (۲۰۱۴): http://www.e-ir.info/2014/03/23/afghan-womens-hopes-for-the-future/#.Uy7WOAWbauU.facebook.

زرين حامد (۲۰۱۲) "د ښځو شميرنه- د امنيت شورا ۱۳۲۵ شمېره پريکړه ليک: د مدني ټولنې د څارنې راپور ۲۰۱۲- افغانستان" د ښځينه سوله جوړونکو د نړيوالې شبکې پروژه http://www.gnwp.org/wp-content/uploads/2010/02/Afghanistan_Report.pdf ۲۰۱۲

چهار راهی ترافیک - خانه شماره 364 — کابل افغانستان
communication@epd-afg.org — www.epd-afg.org

د سولې او ولسواکۍ لپاره د برابري دفتر یو غیر انتفاعي او غیر حکومتي سازمان دی، چې په افغانستان کې د ټولنې او پالیسي په کچو د ښځو او ځوانانو توانمند کولو ته ژمن دی. د دغه سازمان هدف د ښځو او ځوانانو د ظرفیت لوړول دي څو په لومړي ردیف کې واقع شي او په هیواد کې د پرمختیا، سوله جوړونې او په ډیموکراتیکه پروسو کې د خپلو اړتیاوو استازیتوب ترسره کړي. د سولې او دیموکراسی د یو شانوالی موسسه د دی زمینه برابری وی ترڅو ځوانان او ښځې د یو بل سره راټول شی، دځوانانو او ښځو شبکې جوړکړی تر څو د دی لاری څخه د اعتماد په جوړولو یو ځای د یو دموکراتیک او د تعصب څخه پاک افغانستان جوړ کړی.